# د رُوحُ القَدس
# معمُورَتَیا



ګوردن لیندسی

# د رُوحُ القُدس معمُورَتَیا

## ګوردن لیندسی

Roshan Books

روښانه کتابونه

# اول باب

## آیا کله مو چه ایمان راوړ روح القدس درباندې نازل شو؟

د حضرت عیسی مسیح د ټولو نه د لویو نعمتونو څخه خپلو پیروانو ته د روح القدس د بپتسمې او د معموریدلو د نعمت څخه عبارت وه. هر کله چه هغه لاآسمان ته ختلی نه وه او د خپلو پیروانو سره ولاړ وه نو هغوی ته ئې داسې وویل "... چه د بیت المقدس نه مه وزئ او دا ئې وویل چه تاسو خامخا انتظار وکړی د دې د پاره چه هغه وعده چه زما پلار کړی ده او ما ئې تاسو ته ذکر کړی دی پوره شي. او لکه چه تاسو ته معلومه ده چه یحییٰ به په اوبو بپتسمه ورکوله خو تاسو ته به په روح القدس بپتسمه در کړای شی او دا به لږې ورځې پس وی (اعمال ۱: ۴-۵). او دې ویلو نه وروسته حضرت مسیح آسمان ته پورته کړای شو. او شاګردان ئې بیت المقدس ته بیرته ستانه شول او تر لسو ورځو پوري ئې هلته عبادت کاوه چه په دوی باندې روح القدس نازل شو. " ناڅاپې د آسمان نه د تیز باد په شان آواز راغی او په هغه ټول کور کښې چیرته چه دوئ ناست وو، آوریدلی شو. او هلته هغوئ د اور د

لمبو په شان ژبې وليدلې، هغه په هغوئ کښې خورې شوې او هر يو ئې مسح کړلو. او ټول په روح القدس معمور شول او په پردو ژبو ئې خبرې شروع کړې څنګه چه روح القدس د خبرو طاقت ورکړو" (اعمال ۲: ۳-۴). هغه شان خبرې ئې کولې دا يو لوې نعمت وه چه دوي ته ورکړای شو او د دوی ژوند ئې تبديل کړ او الهی نور په دوي باندې روښانه شو. او که څه هم دوي ډير بې علمه خلک وه خو بيا هم د حضرت عيسی زيرې ئې خلکو ته اورول غوښتل او د خلکو ژوند ئې د هلاکت څخه بچ کاوه. د دې د پاره پولوس رسول د ايماندارانو څخه دا مهم سوال وکړ چه:

"... څۀ وخت چه تاسو ايمان راوړې وو نو روح القدس درباندې نازل شوی وو څۀ؟" (اعمال ۱۹: ۲) نو بس د روح القدس د بپتسمې څخه مراد څه شی دی؟ او کوم علت دی چه انسان د ده د پيدا کولو او لاس ته راوړلو په تلاس کې کيږي؟ او د دې کار څخه کوم نتائج منځ ته راځی؟ په راتلونکو درسونو کښې به دې سوالونو ته جواب ورکړو او هم به دا واضح کړو چه هر مسيح بايد څنګه دا قدرت لرونکی بپتسمه ومومی.

# ۱ - لکه څنګه چه حضرت مسیح او رسولانو د روح القدس بپتسمه لاژمه وګڼله نو مونږ هم ورته اړ یو

حضرت مسیح د لوی خدای زوی د آسمان څخه ښکته راغی او خپل آسمانی جلال ئې پریښود او انسان شو او د انسانی کمزوزیو تابع شو (عبرانیان **۵**: ۷-۹). د خپل انسانی ژوند په مطابق او د ابن آدم لقب په مطابق د روح القدس بپتسمی ته ئې احتیاج درلود. هم دا وجه وه چه مخکښی د خپل خدمت له شروع څخه ئې د یحییٰ بپتسمې ورکونکی څخه د اردن په سیند کښی بپتسمه واخیسته (متی **۳**: **۱۲**). دولسو رسولانو په بالا خانه کښی روح القدس حاصل کړو او هغه ښځو چه د حضرت عیسی څخه ئې پیروی کوله روح القدس بیاموند (اعمال ۱ : **۱۴**). د حضرت عیسی مسیح مور مریم چه د روح القدس په وسیله سره امیدواره شوه او خلاصونکی ئې دنیا ته راوړ روح القدس ئې وموند. د حضرت عیسیٰ مسیح ورونو هم دا بپتسمه حاصله کړه. او په بالاخانه کښی هغه کسان چه ټول یو سلوشل (۱۲۰) کسان وه هم دا بپتسمه حاصله کړه. هغه دری زره کسانو چه د پنتکست د اختر په ورځ ئې د پطروس وعظ واورید د روح القدس وعده ورسره وشوه (اعمال ۲: **۳۷-۳۹** آیاتونو پوری ولولئ). که

چيري دوي ټول د روح القدس د بپتسمی احتياج درلود ، نو مونږ او تاسو ئې هم لرو.

## ۲- روح القدس قدرت ورکوی چه د عیسی مسیح شاهدان اوسو.

"خو تاسو ته به د روح القدس په نازليدو طاقت در کړای شی او تاسو به په بيت المقدس کښې او په ټوله يهوديه او سامريه کښې او د دې نه اخوا د دنيا تر بله سره زما شاهدان يئ" (اعمال ۱ : ۷). د يو کاميابه مسيحی ژوند تيرولو ته د ټولو نه اول مونږ ته د قدرت لرلو ضرورت دی. مونږ ته قدرت لازم دی چه ټولو خلکو ته ګواهی ورکړو او د مسيحيت د ټولو نه مهم کار سرته ورسوو. د روح القدس د بپتسمی نه هم دا مرام دی چه مونږ ته دا قدرت راوبخښی. د ټولو نه يو عجيبه او قوی دليل د مسيحی مذهب د حقانيت په باره کښې دا دی چه صرف معمولی او بې علمه ماهيګران د هغه وخت د رهبرانو په سترګو کښې د قبلولو وړ وه. او سره د دې چه د دوی ډير مخالفان او په ضد خلک هم وه خو بيا هم ئې يو قوی او باقدرته مذهب منځ ته راوستو او تاسيس ئې کړ.

## ۳- روح القدس مونږ ته د پاک او مقدس ژوند د تیرولو قدرت راکوی.

"لنډه دا چه څوک چه د عیسیٰ مسیح سره یووالی لری، د هغوی مجرم کیدل نشته. ځکه چه په عیسیٰ مسیح کښی د ژوند ورکونکی د روح شریعت زه د ګناه او د مرګ له شریعت نه آزاد کړلم... که چیري تاسو دغسی ژوند تیر کړی نو خود به مرئ، خو که چیری د روح په وسیله تاسو د وجود ټول انسانی خواهشات مړۀ کړئ نو بیا به تاسو ژوندی پاتی شئ" (رومیان ۸: ۱-۲، ۱۳).

د دې آیات په رڼا کښی مونږ پوهیږو چه روح القدس مونږ د ګناه او د مرګ له شریعت څخه آزاده وی. د روح القدس نه بغیر د انسان هر یو کوشش د ناکامی سره مخامخ کیږی او بې فایدی دی. انسان هیڅکله نه شی کولای چه د روح القدس نه بغیر یو موفقانه ژوند ولری. او همیشه به د ناکامی سره مخامخ وی. پولوس رسول د رومیانو په کتاب په اوم باب کښی د خپل ځان په هکله دا موضوع تشریح کوی. په حقیقت کښی د انسان هر یو ښه کار د خدای تعالی په نظر کښی د یوی زړی او بدبوی ټوټی په شان دی.

باید چه په دې وپوهیږو چه هر یو مسیحی یو څه اندازه روح القدس ولری که نه نو د حضرت عیسی مسیح له پیروانو څخه نه دی (رومیان ۸: ۹ آیات ولولئ).

هغه څه چه د پنتکست د اختر په ورځ واقع شول دا د ډیر روح القدس د نازلیدو د پاره یو ښه مثال دی. روح القدس د ایماندار سره شته مګر د روح القدس د بپتسمی څخه وروسته به په هغه کښی په معمورتیا سره اوسیږی. هغه روح القدس چه انسان ته د پاک او مقدس ژوند د تیرولو قدرت وربخښی.

## ۴- روح القدس هغه تسلی ورکونکی دی چه د تل لپاره زمونږ سره اوسیږی

"او زه به پلار ته خواست وکړم چه تاسو ته بل مددګار درکړی څوک چه به تاسو سره مدام وی" (یوحنا ۱۴: ۱۲). روح القدس هغه تسلی ورکونکی دی چه د تل لپاره چمتو دی چه زمونږ سر واوسیږی څه عجیبه غوندی فکر دی چه هغه روح القدس چه د دنیا د پیدایښت نه وړاندې په تیاری باندې غالب شو او رڼا ئې منځ ته راوستله تیار او

چمتو دی چه مونږ سره واوسیږی، بلکه دا نه چه د یوی ورځ یا یوی میاشتی یا یو کار د پاره مګر تر ابده پوری پاتی شی. یو میلون کاله وروسته به هم روح القدس مونږ سره وی چه زمونږ او د پاک خدای تر منځ خبری اتری تر ابده پوری جاری وساتی او تسلی راکړی.
وګوری چه ټول دنیاوی او مادی برکتونه د دې تسلی ورکونکی په مخکښی بلکل بې معنی دي. کیدای شی چه د دنیا عیش او عشرت لږ څه عمر زمونږ په خوشحالی معمور کړی، مګر د روح القدس شتوالی او تسلی ورکول باید هیڅکله د دې سره مشابه نه کړو.
د روح القدس د جلال څخه معموریدل یواځینی شی دی چه د انسان روح ته خوشحالی آرام او سکون وربخښی. انسان په داسی طریقه سره خلق شوی دی چه خپله نشی کولای چه کامل شی. د هغه په روح کښی یو روحانی خالیګاه موجوده ده. که چیري دغه خالیګاه د خدای تعالی په وسیله ډکه نشی نو باالخره هغه به د شر او فساد څخه ډک شی (لوقا ۱۱: ۲۴-۲۶ پوری ولولئ).

## ۵- روح القدس به زمونږ فانی جسمونه ژوندی کړی.

"که چیري د خدای روح په تاسو کښې اوسی نو بیا خدای چا چه عیسیٰ د مړو نه ژوندی کړی دی، به ستاسو دې فانی وجودونو ته هم نوی ژوند ورکړی، د هغه د روح په وسیله چه په تاسو کښې اوسی" (رومیان ۸: ۱۱). پوهیږو چه د مریضانو الهی شفا د روح القدس په قدرت سره اجرا کیږی. د خدای تعالی قدرت د دوی د پاره رالیږل کیږی. مګر د خدای تعالی مرام د شفا ورکولو څخه ډیر لوی دی. او دا کار الهی سلامتی نه ډک وی. "زما خوږه ګایوسه! زه دعا غواړم چه روغ او جوړ او په خیر خیریت اوسی لکه څنګه چه زه خبر یم چه ته په روحانی طور یئ (دریم یوحنا ۲). پولوس رسول فرمائی کوم روح چه حضرت عیسیٰ مسیح د مړو نه را ژوندی کړو هم هغه روح مونږ ته راکړی شوی دی هغه به زمونږ فانی بدنونه راژوندی کړی. فکر وکړی چه پولوس رسول په دې ځای کښې د قیامت څخه بحث نه کوی مګر د فانی وجود د بیا ژوندی کولو په باره کښې خبره کوی. لکه څنګه چه د آیات د متن څخه معلومیږی چه د پولوس رسول د اوسنی ژوند څخه مطلب دی. د قیامت ورځ تر اوسه را رسیدلی نه ده مګر په هم دې حال کښې به خدای زمونږ دا فانی وجودونه را ژوندی کړی چه په

پوره او کامله اندازه سره قدرت او طاقت ولرو چه د هغه کار سرته ورسوو کوم چه هغه مونږ ته سپارلی دی.

## ۲- روح القدس به مونږ هر یو ښه کار او صداقت ته هدایت کړی.

"نوری هم ډیری خبری دي چه تاسو ته مې کړی وای خو دا به اوس تاسو برداشت کولای نه شی. خو کله چه د حقیقت روح راشی نو هغه به تاسو ته دا ټول حقیقت وښیی ځکه چه هغه به د خپله ځانه هیڅ نه وائی، خو هغه څه به وائی کوم چه هغه آوری او هغه به تاسو په راتلونکی واقعاتو خبر کړی (یوحنا ۱۲: ۱۲، ۱۳).

ځینی عیسوی فرقی د روح القدس د بپتسمی څخه منکر دي. دوي په قرار قرار سره عقلی او بې ایمانی طرف ته متوجه کیږی او په همدې ډول سره د یوی پیغلی او باکړی څخه د اولاد د زیږیدو څخه انکار کوی. مګر هغه کسان چه د روح القدس بپتسمه ئې اخیستی وی د دې اشتباهاتو سره نه مخ کیږی.

## ۷- هر چا چه د روح القدس بپتسمه اخیستی وی حتماً پوهیږی چه مقدس کتاب د خدای کلام دی.

د تعجب خبره نه ده چه یو ایماندار روح القدس حاصل کړی خو بیا هم د ځینی اشتباهاتو سره د چار شی. کیدای شی چه داسی کارونه وکړی چه د مسیحی مذهب مخالف یا په مسیحیت کښی منع وی، ځکه چه خدای انسان ته آزادی ورکړی ده (اول تیموتیوس ۱: ۱۹، ۲۰ او دویم تیموتیوس ۲: ۱۷-۱۸ آیاتونو پوری ولولی).

مګر که د روح القدس په هدایت او لارښوونه ئې عمل وکړ او خپل ځان ئې هغه ته تسلیم کړ، نو د خدای تعالی روح به هغه د دې ټولو اشتباهاتو څخه محفوظ وساتی.

# ۸- روح القدس مونږ سره مرسته کوی چه په عالی او لوړه سویه سره دعا وکړو.

"روح القدس هم په دې شان زمونږ په کمزورتیاؤ کښې مدد کوی. مونږ ته دا هم نه ده معلومه چه دعا څنګه کول په کار دي خو روح القدس په اسویلو زمونږ شفاعت کوی چه په لفظونو کښې نه شی بیان کیدلای" (رومیان ۸: ۲۶). د دې د پاره چه دعا وکړو ضرور نه ده چه د روح القدس بپتسمه دې ولرو او چه د خدای مهربانی او رحم ډیر زیات دی او هم د خدای روح قدرت لری چه د ګناه ګارانو دعا ته جواب ورکړی او هغوی سره مرسته کوی چه خواستونه تکرار کړی. لکه څنګه چه مخکښې بیان وشو همدارنګه نوی ایماندار څه ناڅه روح القدس لری چه دعا وکړی او د خپلو دعاګانو جواب ومومی.

مګر دا موضوع په دې ځای نه ختمیږی. هر کله چه د روح القدس مکمله بپتسمه مونږ ته حاصل شی او په مکمل طور سره ورته خپل ځان تسلیم کړو، نو وبه وینو چه د خدای مقدس روح زمونږ په داخل کښې مونږ سره مدد کوی چه دعا وکړو او د خپلو مشکلو مسئلو جوابونه ووینو. د ذکر شوی آیات نه دا معلومیږی چه په حقیقت کښې هیڅوک نه پوهیږی چه په کومه طریقه سره دعا وکړی. مګر که روح

القدس ته اجازه ورکړو، نو هغه زمونږ د پاره په هغه لفظونو سره دعا کوی چه هغه مونږ بیانولی نه شو. پولوس رسول مونږ ته خبر راکوی چه هغه به خپله کله په روح او کله په عقل سره دعا کوله (اول کورنتیان ۱۴: ۱۴، ۱۵ آیاتونو پوری ولولئ).

# آیا د ایمان راوړلو په وخت کښې د روح القدس بپتسمه اخیستلی شئ؟

که چیري یو انسان ایمان ولری او د کتاب مقدس د تعلماتو څخه اګاه وی او په رښتیا سره د حقیقت وړی تږی وی، نو د ایمان راوړلو او د روح القدس د بپتسمی تر منځ دومره فاصله موجوده نه ده. د دې کار د ټولو نه ښه مثال د کورنیلیوس د کورنئ مثال دی (اعمال ۱۰: ۴۴-۴۸ آیاتونو پوری ولولی). په هغه کورنئ کښې د روح القدس د تیاری او راتلو د پاره د روژی نیولو او دعا کولو موجودیت وه. داسی وخت وه چه لا پطروس رسول خپل وعظ پوره کړی نه وه چه د هغه کور د روح القدس نه معمور شو.

مګر لږه فاصله که څه هم ډیر لنډه وی د روح او د نجات د کار تر منځ شته دی او لږ فاصله انسان د روح څخه د معمور کیدو په باره کښې موجوده ده.

# ۱ - حضرت عیسی مسیح مونږ ته فرمایلی دی چه د روح القدس د پیدا کولو د پاره دعا وکړی

هر کله چه مونږ د خدای تعالی زامن کیږو نو دویم قدم دا دی چه باید روح القدس پیدا کړو.

"ځکه چه که تاسو هر څومره بد یی خو په دې پوهیږئ چه خپلو بچو له ښه څیزونه ورکړی نو ستاسو آسمانی پلار به څومره زیات هغوی ته روح القدس ورکړی چه څوک ئې غوښتنه کوی" (لوقا ۱۱: ۱۳).

په دې ځای کښې حضرت عیسیٰ د پلار او بچو په باره کښې خبری کوی هغه فرمائی چه دنیاوی مور پلار چه د اکثرو کمزورتیاو څخه ډک دي غواړی چه خپلو بچو ته ښه ښه شیان ورکړی. د ټولو نه ښه شی روح القدس دی.

د روح القدس د حاصلولو د پاره عامه لاړ دعا ده چه تر څو ئې پیدا کړی د خدای هر یو اولاد د ایمان راوړلو او توبه کولو په وخت کښې څه نا څه روح القدس حاصلوی.

"... او که څوک د مسیح روح نه لری نو هم د هغهٔ نه دی" (رومیان ۸: ۹). آیا دا د روح القدس څخه معموریدل نه دی؟

آسمان ته د ختلو څخه د مخه مسیح خپلو شاګردانو ته داسی وفرمایل: ((روح القدس حاصل کړئ)) بې له کوم شک څخه هغوی دومره روح القدس حاصل کړ مګر پوره بپتسمه ئې حاصله نه کړه، ځکه چه د پنتکست اختر ورځ لا نه وه را رسیدلی (اعمال ۲: ۴ آیات ولولئ).
کومه تجربه چه د پنتکست د اختر په ورځ په لاس راغله هغه د ژوند د نهرونو څخه عبارت وه چه حضرت عیسیٰ ورته د یوحنا په انجیل ۷: ۳۷-۳۹ آیاتونو کښی اشاره کړی ده.
"او د لوی اختر په اخره ورځ حضرت عیسیٰ ودرید او غږ ئې وکړ چه هر څوک چه تږی وی ما ته دې راشی او و دې څښی. هر څوک چه په ما ایمان راوړی د هغه نه به د ژوندیو اوبو نهرونه بهیږی. مګر دا خبره ئې د روح په باره کې وکړه چه هر څوک په هغه ایمان راوړی هغه به ومومی ځکه چه روح القدس لاتر هغه وخته نازل شوی نه وه ځکه چه عیسیٰ لاخپل جلال ته نه وه رسیدلی."

# ۲- حضرت مسیح په خپل اخری وعظ کښې خپلو شاګردانو ته وفرمایل چه "د پلار د وعدې انتظار وکړئ"

شاګردانو خلاصون حاصل کړی وه هر کله چه هغه اویا کسان بیرته راغلل او په دې ډیر خوشحاله وه چه پیریانو او دیوانو ئې تابعداری کوله او دا قدرت ورسره وه چه هغوی وشړی نو حضرت عیسیٰ ورته وویل چه "خو په دې یواځې مه خوشحالیږئ چه روحونه ستاسو تابعداری کوی بلکه په دې چه ستاسو نومونه په آسمان کښې ولیکلی شول" (لوقا ۱۰: ۲۰). مګر په هغه وخت کښې یو له شاګردانو څخه هم د روح القدس بپتسمه نه وه اخیستې. عیسیٰ ورته وویل چه "... تاسو خامخا انتظار وکړئ د دې د پاره چه هغه وعده چه زما پلار کړې ده او مائې تاسو ته ذکر کړې دی، پوره شی. او لکه چه تاسو ته معلومه ده چه یحییٰ به په اوبو بپتسمه ورکوله خو تاسو ته به په روح القدس بپتسمه درکړی شی او دا به لږې ورځې پس وی" (اعمال ۱: ۴، ۵). نو دا خبره واضح ده چه د روح القدس بپتسمه پس له نجات څخه حاصلیږی. د اعمال د رسولانو د کتاب څخه دا

خبره واضح ده چه پس له توبی او ایمان راوړلو څخه به دا بپتسمه په کلیسا کښې سرته رسول کیدله.

## ۳- فلیپوس زیری ورکونکی سامریه ته لاړ او د حضرت مسیح وعظ ئې خلکو ته وکړ.

هغوی د خلکو په نظر کښې ډیر ښه قدر حاصل کړو او ډیرو خلکو ایمان راوړو او شفا ئې وموندله. د اوبو د بپتسمې پروګرام جوړ شو او ډیرو خلکو د اوبو بپتسمه واخیسته. دې ایمان لرونکو د خلاصون نعمت حاصل کړی وه لکه څنګه چه حضرت مسیح په خپل وعظ کښې ویلی وه.
"هر څوک چه ایمان راوړی بپتسمه دې واخلی نجات او خلاصون به ورته ور کړای شی."
مګر متوجه اوسی چه سامریانو لا تر اوسه پوری د روح القدس بپتسمه نه وه حاصله کړی. مونږ ته ویلی شوی دي چه روح القدس د دوی څخه په یو هم نه وه نازل شوی. پس له دې پطروس او یوحنا چه دوی ته دا خاص خدمت ور په غاړه وه سامریه ته لاړل او ایماندارانو ته ئې هلته دعا وکړه. په هغوی باندې ئې خپل لاسونه کیښودل او

هغوی روح القدس حاصل کړو. د دې خبری نه دا معلومیږی چه د روح القدس بپتسمه او د هغی څخه معمورتیا له ایمان راوړلو څخه حاصلیږی.

## ۴- پولوس رسول پس له ایمان راوړلو څخه روح القدس حاصل کړو.

هغه تجربه چه پولوس حاصله کړه ډیره مهمه وه، ځکه چه هغه د دمشق په لاره چه کومه معجزه ولیده او حضرت عیسیٰ ورته خپل ځان څرګند کړو، نو ایمان ئې راوړو (اعمال ۹: ۸-۱۷ آیاته پوری ولولئ). مګر په هغه موقع او وخت کښی ئې روح القدس پیدا نه کړ. روح القدس ئې دری ورځی پس بیاموند هر کله چه دی د حنانیا کور ته لاړو او هغه ورته دعا وکړه، نو روح القدس ئې حاصل کړ. نو مونږ وینو چه روح القدس پس له ایمان رواړولو څه په یو ایماندار نازلیږی.

# ۵- پولوس رسول خلکو ته دا تعلیم ور کړ چه د روح القدس بپتسمه پس له راوړلو څخه اجرا کیږی

هر کله چه پولوس رسول افیسوس ته لاړ هلته ئې یو څو شاګردانو سره ولیدل او د هغوی څخه ئې داسی سوال وکړ چه "هر کله چه مو ایمان راوړ روح القدس دربا ندې نازل شو؟" د دې خبری نه دا معلومیږی چه د ایمان راوړلو په موقع کښی روح القدس پخپله نه نازلیږی که چیري داسی امکان وه، نو پولوس هیڅکله هم د هغوی څخه دا سوال نه کاوه. هر کله چه پولوس رسول ولیدل چه دوی لا تر اوسه پوری روح القدس نه دی حاصل کړی، نو هغوی ته ئې وویل چه یحییٰ د بپتسمی په باره کښی کوم تعلیم ورکړی دی. نو په هغوی باندې ئې خپل لاسونه کیښودل او هغوی روح القدس حاصل کړو لکه څنګه چه مو مخکښی ذکر وکړ چه هر څوک چه په مسیح ایمان راوړی تر یوی اندازی پوری روح القدس لری (اول کورنتیان ۱۲: ۳ او رومیان ۸: ۹ آیات ته وګوری). حضرت مسیح خپلو شاګردانو ته د خلاصون حاصلولو او د روح القدس نازلیدل چه وروسته به شاګردانو ته ورکول کیږی داسی وویل چه

"... ځکه چه هغه تاسو سره اوسی او په تاسو کښې وی" (یوحنا ۱۴: ۱۷). دا هم هغه د ژوند نهرونه دي چه مسیح ورته په یوحنا ۷: ۳۷-۳۹ کښې اشاره کړی ده او د هغه خلکو په نصیب کیږی چه د روح القدس څخه معمور وی.

# دویم باب

## په نا آشنا او روحانی ژبو سره خبری کول.

د روح القدس تر ټولو څخه اوله نتیجه څه شی ده؟ مونږ به د اعمالو د رسولانو د کتاب په مطابق کوم روح القدس چه هغه کسانو ته ورکړ شوی وه تشریح کړو. مقدس کتاب نه دا خبره په ښه طور سره څرګندیږی چه اولینه نخښه د روح القدس دا ده چه په نورو ژبو سره خبری کول دي.

۱- د اعمال په کتاب ۲: ۴ آیات کښی داسی لولو چه ټول ۱۲۰ نفره چه د عیسیٰ مور او وروڼه په کښی شامل وه چه په اعمال ۱: ۱۴ کښی وینو د روح القدس څخه ډک شو او په مختلفو ژبو ئې خبری وکړلي لکه څنګه به چه روح ورته د خبرو کولو طاقت ورکولو په روحانی ژوبو ئې خبری شروع کړی.

۲- اعمال ۸: ۱۷، ۱۸ آیات څخه دا حقیقت په ګوته کیږی چه شمعون ولیدل چه دوي روح القدس حاصل کړ هر کله چه دا موضوع د بل آیات سره مقایسه کړو چه منطقی نتیجه ئې دا وه چه رسولانو

صرف د ایماندارانو په لاس ایښودلو سره په خبرو کولو او نورو ژبو ویلو شروع وکړه.
**۳**- اعمال **۹**: **۱۷** آیات مونږ ته را په ګوته کوی چه هر کله چه په پولوس باندې لاسونه کیښودل شول تر څو چه روح القدس بیا مومی هغه په مختلفو ژبو خبری وکړی ځکه چه هغه خپله لیکی چه "د خدای شکر کوم چه زه له تاسو نه زیات په روحانی ژبو کښی خبری کوم" (اول کورنتیان **۱۴**: **۱۸**).
**۴**- اعمال **۱۰**: **۴۶** داسی ښکاره کوی چه هر کله چه امتونو روح القدس حاصل کړ پطروس واوریدل چه هغوی په ژبو باندې خبری کوی.
**۵**- اعمال **۱۹**: **۲** آیات مونږ ته ښیی چه هر کله چه پولوس رسول په افسیانو باندې خپل لاسونه د روح القدس د نازلیدو د پاره کیښودل "هغوی په ژبو باندې خبری شروع کړی." نو بیا دا سوال پیدا کیږی چه هر وختی چه ایمانداران د روح القدس بپتسمه واخلی نو په ژبو باندې خبری کوی ځکه چه دا یوه نخښه ده چه په مقدس کتاب کښی د دې خبری واضح بیان دی، نو بیا دا سوال هم منځ ته راځی چه ایمانداران ولی په پردو ژبو خبری کوی او د دې کار څخه مرام او مقصد څه دی؟

# په نا آشنا ژبو باندې خبرې کول څه اهمیت لري؟

ځینې خلک داسې نظر لري چې هر څومره په نا آشنا ژبو خبرې کول د مقدس کتاب په مطابق وي، خو بیا هم ډیر مهم کار نه دی. مونږ هم دا خبره قبلوو چه که چیرې خبرې کول په نا آشنا ژبو باندې صرف هغه کار وي چه انسان ئې حاصلوي نو دا تجربه کوم د آرزښت وړ نه ده.
پولوس رسول وائي "که چیرې زه د فرښتو او د بنی آدمو په ژبه خبرې کوم او مینه نه لرم نو زه ټنګیدونکې پیتل یا شرنګیدونکې ځنځنې یم" (اول کورنتیان ۱۳: ۱).
مګر که په نا آشنا ژبو باندې خبرې کول د روح القدس د نازلیدو نه مخکښې یا په هم هغه وخت کښې وشي ډیر اهمیت به ولري، ځکه چه د روح القدس څخه معموریدل او په نا آشنا ژبو خبرې کول د روح القدس بپتسمه منځ ته راوړي په نورو ژبو خبرې کول نه دا چه ډیر اهمیت لري، بلکه د یو ایماندار ژوند قوي کوي او تشویقوي یې او دا د یو ایماندار په ژوند کښې یوه خوندوره تجربه ده. مونږ به په دې باب کښې د یو ایماندار په روحاني ژبو خبرې کول او د هغې اصلي مقصد تاسو ته په مختصر ډول سره تشریح کړو.

## ۱- په نورو ژبو باندې خبرې کول یو "سکون" او "استراحت" دی چه خدای ئې وعده کړی ده.

"ځکه چه په ساده او تتو ژبو سره به دې قوم ته خبرې وکړم دوي ته وویل شو چه راحت هم دا دی چه ستړی او ستومانه آرام کړی او په حقیقت کښې آزادی هم دا ده ولې دوی ونه غوښتل چه ورته غوږ کښیږدی" (یشعیاه ۲۸: ۱۱، ۱۲). تاسو به ضرور کوشش کوی چه په اصله موضوع باندې خبرې وکړی، خو د خدای روح فرمائې چه ((راحت هم دا دی چه ستړی او ستومانه آرام کړی او په حقیقت کښې آرامی هم دا ده)) نو ښکاره خبره ده چه د آیات دا برخه هغه مخکینی آیات ته اشاره کوی. آیا دا راحت او آرامی نا آشنا ژبو ته اشاره نه ده؟
اجازه را کړی چه دا موضوع تاسو ته په خلص ډول سره تشریح کړم. په نا آشنا ژبو سره خبرې کول یواځې نشی کولای چه یو انسان ته آرام او سکون ورکړی، اګر دغه روح القدس چه په انسان نازلیږی او په هغه کښې اوسی او د نورو ژبو د ویلو طاقت ورکوی، نو راحت او سکون انسان ته ورکوی. په حقیقت کښې روح القدس یو ربنتینی موجودیت دی کله چه په انسان کښې داخلیږی هغه انسان په نا آشنا ژبو خبرې کوی.

دغه اظهار د روح القدس او حاضریدل ئې هغه لوی او عظیم برکت او استراحت دی. دا هم د روح القدس څخه د معموریدو یو دلیل دی چه په نا آشنا ژبو سره خبری کول ورسره وی. ځکه چه یوائې په نورو ژبو سره خبری کول چه روح القدس ور سره نه وی نشی کولای چه د انسان د راحت او سکون سبب شی.

همدا وجه وه چه پطروس سمدستی د پنتکست د اختر د ورځې نه یعنی چه اوله کلیسا د روح القدس څخه معموره شوه یهودیانو ته ئې بلنه ورکړه چه توبه وکړی او د برکتونو "وخت او آرامی د خدای د حضور" څخه حاصله کړی.

"نو توبه وکړئ او خدای ته را وګرزئ چه ګناهونه به مو معاف کړی" (اعمال ۳: ۱۹).

پس دا صحیح خبره نه وه چه په نا آشنا ژبو باندې د خبرو کول تجربه بې اهمیته وګڼو ځکه چه دا د روح القدس د حاضریدو نخښه ده چه چمتو دی چه د یو ایماندار په ژوند کښې واوسیږی.

## ۲- حضرت مسیح په خپله عظیمه او لویه دوره کښې وویل چه ایمانداران باید په روحانی او نا آشنا ژبو خبری وکړی.

بیا هغه هغوی ته وویل، د تمامی دنیا هرې سیمی ته لاړ شئ او زما د زیری وعظ ټول مخلوق ته وکړئ. هر څوک چه په دې ایمان روواړی او بپتسمه واخلی، نو هغه به خلاصون بیا مومی او هر څوک چه پرې ایمان را نه وړی هغه به مجرم شی. د ایمان په راوړلو به ترې دا معجزې څرګندیږی چه زما په نوم به پیریان لری کوی او په نا آشنا ژبو به خبری کوی" (مرقوس ۱۲: ۱۵-۱۷).

د کتاب مقدس د مهمو برخو څخه او د حضرت عیسیٰ اهمو حکمونو څخه د مرقوس ۱۲ باب دی چه په دغه ځای کښې حضرت عیسیٰ کلیسا ته د ټولو نه عظیم او لوی مسئولیت او ذمه واری ورکوی. د دې نه مخکښې چه هغه آسمان ته قیام وکړی دا زمونږ د مالک اخری خبری دی چه کلیسا تل او د همیشه د پاره توجه ورکړی ده. اجازه راکړی چه دا دنده او مسئولیت تاسو ته په مختصر ډول سره واضح کړم. اول دا ضروری وه چه کلیسا ټولی دنیا ته لاړه شی او انجیل ټولو خلکو ته وعظ کړی. که هر څومره کلیسا د دې کار سر ته رسولو څخه

غافله ده مګر عموماً د دې کار د اهمیت او د زر سر ته رسولو ذمه واری ته توجه لری.
دویم دا چه حضرت عیسیٰ د دې عظیم مسئولیت په خاطر کلیسا ته فرمایلی دي چه په ټولو قومونو کښی خلق زما مریدان کړئ. او هغه هم داسی وفرمایل چه هر هغه څوک چه په زیری ایمان راوړی خلاصون به بیا مُومی او هر هغه څوک چه پرې ایمان را نه وړی نو هلاک به شی.
ټولی کلیساګانی تر دې ځایه پوری سره په یوه عقیده او باور دي، مګر باید متوجه اوسی چه دا عظیمه او لویه ذمه واری په دې ځای نه ختمیږی. مسیح په همدې وخت هغه نخښی نښانی چه په واقعی ایمان کښی لیدل کیږی بیانوی. بعضی له دې نخښنو څه په ۱۷ آیات که ذکر شویدي.
"زما په نوم به پیریان لری کوی او په نا آشنا ژبو به خبری کوی." د مریضانو شفا موندل او پیریانو لری کول هغه نخښی دي چه یو ایماندار باید ولری. د دې نخښنو سره دا یوه نخښنه هم موجود ده چه "په نا آشنا ژبو خبری وکړی."

لکه ځنګه چه مسیح د نا آشنا ژبو ویل په عظیم او لوی مسئولیت کښې شامل کړی دي، نو د دې نه معلومیږی چه دا نخښی د ډیر لوی اهمیت وړ دي.

## ۳- هر څوک چې په نا آشنا ژبو خبری کوی د خدی سره خبری کوی.

په پورته دنیا کښی پولوس رسول وائی چه "هر څوک چه په نا آشنا ژبو خبری کوی د خدای سره خبری کوی" ډیر خلک دا غواړی چه پوهه شی چه په نا آشنا ژبو سره د کلام کولو څخه څه مرام او مقصد دی.
په دې ځای کښې ورته په پوره او کافی اندازه سره دلیل وړاندې کړای شوی دی چه هر څوک چه په نا آشنا ژبو خبری کوی د خدای سره خبری کوی.

# ۴- یو ایماندار چه په نا آشنا او روحانی ژبو سره خبری کوی خپل ځان تقویه کوی.

"څوک چه په روحانی ژبه کښې خبری کوی هغه د خپل ځان ترقی کوی او څوک چه نبوت کوی هغه د جماعت ترقی کوی" (اول کورنتیان ۱۴: ۴). په دې ځای کښې داسې نکته موجوده ده چه هغه کسان چه په خارج کښې دي هغوی ته څه نا څه د درک کولو وړ نه ده. دغه کسان په روحانی ژبو خبری کول خو اوری ولی د دې څخه برکت نه پیدا کوی. د دې امر څخه باید تعجب او حیرانتیا ونه کړو ځکه چه پولوس رسول وائی چه په نا آشنا او روحانی ژبو سره کلام کول د اوریدونکی په فایده نه دی. په همدې سبب سره پولوس رسول وائی چه په مجلسونو کښې د نا آشنا ژبی ویل بغیر له ترجمی څخه بې فایده دي. (اول کورنتیان ۱۴: ۲ آیات ولولئ). حقیقت خو دا دی چه په مجلسونو کښې د نا آشنا ژبو ویل څه فایده نه لری. په روحانی ژبو سره خبری کول یو تمرین دی د هغه چا د پاره چه په نا آشنا ژبو سره خبری کوی او هم د هغه چا د تقوی او قدرت جوړولو د پاره دی څوک ئې چه استعمالوی. پولوس رسول فرمائی چه "څوک چه په روحانی ژبه کښې خبری کوی هغه د خپل ځان ترقی کوی" (آیات ۴). خپله

پولوس په دې باره کښې ډيره تجربه لرى او هغه فرمائى چه د خداى شکر کوم چه زه له تاسو نه زيات په روحانى ژبو کښې خبرى کوم. دا يوه ښکاره او طبعى خبره ده چه که چيري يو سړى په روح القدس خبري نه وى کړى، نو هغه نه پوهيږى چه دا کار به څه ګټه هغه ته ورسوى او څنګه به د هغه د تشويق سبب وګرزى. ولى هر کله چه روح القدس پيدا کړى، نو پوهه به شى چه په ژبو سره خبرى کول يو ډير زيات برکت لرى. دا يوه اعلى او نه هيرونکى تجربه ده.

## ۵- يو انسان کولاى شى چه د روح په وسيله په نا آشنا ژبه دعا وکړى.

"روح القدس هم په دې شان زمونږ په کمزورتياو کښې مدد کوى. مونږ ته دا هم نه ده معلومه چه دعا څنګه کول پکار دي خو روح القدس په اسويلو زمونږ شفاعت کوى چه په لفظونو کښې نه شى بيان کيدلاى. او خداى څوک چه زمونږ د زړونو ليدونکى دى. هغۀ ته دا معلومه ده چه د دې روح القدس خيال څه دى ځکه چه هغه د خداى د خلقو د پاره د خداى مرضى په مطابق شفاعت کوى" (روميان ۸: ۲۲-۲۷). په دې آيات کښې پولوس رسول دا څرګندوى چه هيڅوک

نه پوهيږی او نشی کولای چه په مناسبه توګه سره دعا وکړی لکه ځنګه چه دعا کول لاژم وی. مګر روح القدس زمونږ يو ډير ښه کومک کونکی دی که چيری هغه ته اجازه ورکړو. «په اسويلو زمونږ شفاعت کوی چه په لفظونو کښې نه شی بيان کيدلای.» د دې نه غير د خدای روح او خدای په فکر او خيال پوهيږی هغه هميشه او تل د خدای د رضا په مطابق دعا کوی. ولی په دې بايد پوهه شو چه روح زمونږ په وسيله ځنګه دعا کوی. بايد دا باور ولرو چه روح القدس مونږ سره په هر قسم دعا کولو کښی کومک کوی. ولی دلته د پولوس رسول مقصد څه بل شی دی، مګر په دې کښې هم شک نشته چه هغه په نا آشنا او روحانی ژبو سره دعا کولو ته اشاره کوی، نو په دې وخت کښی روح القدس د يو ايماندار کس پواسطه دعا کوی.

پولوس رسول وائی چه په عقل او روح سره دعا کوی. د عقل پوسيله سره دعا کول يو ډير اعلی کار دی مګر په روح کښی هم دعا کول ضرور دي.

هر کله چه نه شو کولای چه خپل خواستونه په خپله ژبه سره اظهار کړو، نو روح القدس په نا آشنا ژبه زمونږ ضرورتونه او خواستونه د خدای تعالی دربار ته وړاندې کوی

دا یوه تصادفی خبره نه ده کومه وعده چه په رومیانو ۸: ۲۸ پس له رومیانو ۸: ۲۶ کښې لیکل شوی ده چه د روح القدس په وسیله او زمونږ د شفاعت د پاره زمونږ په وسیله خبری کوی.
"او لکه چه مونږ ته معلومه ده چه خدای په هر څیز کښې د هغوی د پاره ښه پیدا کوی څوک چه د خدای سره مینه لری او د هغه د مرضی په مطابق رابللی شوی دي" (رومیان ۸: ۲۸).

## ۲- په روحانی او نا آشنا ژبو سره خبری کول د کلیسا د پاره یوه هدیه او بخشش دی.

بر سیره پر دې چه په شخصی ډول سره د نا آشنا ژبو ویلو بخشش ګټه لری. مګر دا چه د جماعت د پاره هم ډیر فایده لری. که څه هم په جماعت کښې ټول ایمانداران ترې نه استفاده نه شی کولای. مګر مخکښې له دې څخه چه په جماعت کښې له دې نعمت څخه استفاده وکړو، نو باید اول ترې ځانته او په شخصی ډول سره استفاده وکړو.
د روح القدس نعمت ډیر نازک او احتیاج مند وی. مونږ باید دا موقع ورنکړو چه دا پاک روح په جماعت کښې له منځه لاړ شی. دغه نعمت باید د اول کورنتیاتو ۱۴ باب په مطابق باید استعمال او استفاده

ترې وشی. په نا آشنا ژبو سره خبری کول یو خدمت دی چه په جماعت کښې د دوی د پاره حواله شویدی کیدای شی چه نور خدمت دوی ته نه وی ورکړ شوی.

د داسی خلکو خدمت هغه وخت ګټور وی چه د ژبو د نعمت سره تړلی نعمت یعنی د روحانی ژبو ترجمی نعمت هم ولری. د دې دواړو قسمو نعمتونو څخه مراد دی د خدای د اولاد قوی کول چه دوی د عیسیٰ د بیا راتلو د پاره تیار او آماده کړی.

# دريم باب

## د روح القدس د پيدا کولو طريقه.

په اول باب کښې مو وويل چه پولوس رسول د افيسوس ايماندارنو څخه سوال وکړ «آيا هر کله مو چه ايمان راوړو روح القدس مو پيدا کړ؟» د سامريه خلکو پس له ايمان راوړلو او د اوبو بپتسمې څخه، روح القدس حاصل کړو پولوس رسول د دمشق په لار کښې مسيح قبول کړ او پس له درې ورځو څخه د روح القدس څخه معمور شو. نو په دې کښې شک نشته چه د روح القدس بپتسمه خاص د ايماندارانو د پاره ده چا چه حضرت مسيح خپل خلاصونکی قبول کړی وی. ځکه چه پطروس د پنتکست د اختر په ورځ وفرمايل
"توبه ګار شئ او په تاسو کښې هر يو دې د خپلو ګناهونو د معافی د پاره د عيسیٰ مسيح په نوم بپتسمه واخلی او تاسو ته به روح القدس وبخښلی شی. د خدای وعده تاسو سره، ستاسو د اولاد سره او د هغه ټولو سره ده څوک چه لری دي يعنی د هر چا سره ده چه څوک زمونږ خدای راوبلی" (اعمال ۲: ۳۸، ۳۹).

دا وعده نه صرف د دوی او د دوی د اولاد د پاره وه، بلکه "د هغوی ټولو د پاره چه لری دي د هر چا سره ده چه څوک زمونږ خدای راوبلی."
مګر دلته یو مهم سوال منځ ته راځی چه هر کله چه انسان خلاصون ومومی. آیا دا ضرور دی چه هغه یو داسی پاکی او ښایسته مرحلی ته ورسیږی چه هغه روح القدس بیا مومی؟ بعضی خلک عقیده لری چه د روح القدس د پیدا کولو د پاره ځینی درجی دي چه هغی ته ورسیږی.
ولی په حقیقت کښی دا ضروری نه دي چه یو انسان د روح القدس د پیدا کولو د پاره څه اعلی مرتبی ته ورسیږی او که چیري داسی چا ته ووایو نو کیدای شی چه د هغه رابطه د هغی منابع سره قطع کړو کوم چه د هغه د یو موفقانه او کامیابه ژوند باعث ګرزیدلی وی.
او بله مهمه نکته دا ده چه په خپلو قضاوتونو کښی ډیر احتیاط وکړو. امکان لری چه په ځینی وختونو کښی هغوی داسی هدایت کړی شوی چه له مونږ سره فرق ولری.
باید چه دا خبره یاده ساتی چه نوی ایمانداران د ځینو وسوسو له کبله کیدای شی چه یوی اعلیٰ مرتبی ته ونه رسیږی، مګر دا ضرور ده چه خپل ټول ژوند او ځان خدای ته په مکمل ډول سره وسپاری، تر څو چه هغه د خپل روح په وسیلی سره هغه کار د دوی د پاره اجرا کړی کوم

چه دوی نشی کولای. ځکه چه زمونږ ټول کوششونه د جسم تابع ګرزی (ګلتیان **۵**: **۱۹-۲۱** آیاته پوری ولولئ). او د همدې حقیقت په نه درک کولو سره زرګونو خلک د روح القدس د پید کولو نه محرومه کیږی. او دوی په ژوره توګه سره د دې خبری احساس کوی چه د پاکئ او قدوسیت هغه اعلیٰ درجی ته لا نه دې رسیدلی چه روح القدس پیدا کړی. دا صرف یو لویه اشتباه ده ځکه چه څوک روح نه لری، نو د روح القدس میوی نشی پیدا کولی.

لکه څنګه چه پوهیږو چه روح القدس یو بخشش دی او چیري دا مونږ په خپلو نیکو کارونو سره پیدا کولای شو نو دا ناممکنه وه چه دا د خدای له طرفه یو بخشش یا هدیه وی حضرت مسیح د دې حقیقت په رڼا کښی فرمائی چه "ځکه چه که تاسو هر څومره بد یئ خو په دې پوهیږی چه خپلو بچو له ښه څیزونه ورکړئ، نو ستاسو آسمانی پلار به څومره زیات هغوئ ته روح القدس ورکړی چه څوک ئې غوښتنه کوی!" (لوقا ۱۱: ۱۳). کله دا هم تصور کیږی چه د صادق او مقدس ژوند تیرولو سره، مینه لرل سبب ګرزی چه بعضی خلک نه شی کولای چه روح القدس پیدا کړی. هغوی غواړی چه خاطر جمع اوسی چه په کافی اندازی سره مقدس او پاک دي او هم دغه کار د دوي د ایمان درلودو په لار کښی خنډ ګرځی. خدای تعالی ویلی دي چه په

ټولو خلکو باندې به خپل روح نازلوی نه یوائې په هغه کسانو چه کامل دی.
د پنتکست د اختر په ورځ خدای روح القدس خپل قوم ته ورکړ. په دې کار کښې خدای په پوره اندازه سر برخه لرله. روح القدس همیشه حاضر او تیار دی چه څوک هغه قبلوی په هغوی نازل شی. هغه د دې په وجه په مونږ نه نازلیږی چه مونږ د روحانیت او قدوسیت اعلیٰ درجو ته رسیدلی یو، مګر په دی وجه سره هغه په مونږ نازلیږی چه مونږ سره د خپل هدف او مقصد په مخ تللو کښی کومک وکړی.

## د روح القدس د حاصلولو د پاره تیاریدل.

هغه څه چه په پورته متن کښی وویل شو باید دا فکر ونه شی چه د روح القدس حاصلولو د پاره تیاری لازم نه دی. داسی فکر کول لکه څنګه چه ئې ذکر وشو ډیر خطر ناک دی. د کتاب مقدس د ټولو وعدو د پیدا کولو او حاصلولو د پاره شرطونه شته دي. د خلاصون او د شفا پیدا کولو د پاره شرطونه شته دي. همدارنګه د روح القدس د بپتسمی د پاره هم شرطونه موجود دي. دا شرطونه کوم دي؟ د خدای تعالیٰ د برکتونو د حاصلولو د پاره ځینی خاص بنیادونه موجود دي.

اول باید هیڅکله خدای تعالی ته په سر سری توګه نظر ونه کړو. روح القدس هغه کسانو ته ورکول کیږی چه کیدای شی چه ډیری خالیګاه ولری، مګر په زړه کښی خدای د هر څه نه اول ګڼی. خدای تعالی همیشه غواړی چه د هر څه اول زمونږ په زړه کښی ځای ولری دا ضرور ده چه هر هغه څوک چه په خپل ژوند کښی د روح القدس د پیدا کولو په تلاش کښی وی تعلیم ورکړای شی. نوی ایمان لرونکی همیشه تعلیم ته ضرورت لری. نو که چیري تعلیم ورکول د هغه کسانو د پاره چه خلاصون او شفا ومومی ضرور وی، نو بې له کوم شک څخه هغه کسان چه د روح القدس د پیدا کولو په تلاش کښی دي هم ضرور دی.

## د توبی ویستلو میوی.

هغه کسان چه غواړی چه روح القدس ومومی نو باید په کامل طور سره د خپلو ګناهونو څخه توبه وباسی. پطروس رسول د پنتکست د اختر په ورځ په خپل وعظ کښی خلکو ته وویل "توبه ګار شئ او په تاسو کښی هر یو دې د خپلو ګناهونو د معافی د پاره د عیسیٰ

مسیح په نوم بپتسمه واخلی او تاسو ته به روح القدس وبخښلی شی" (اعمال ۲: ۳).

ممکنه ده چه یو نفر په خپلو ټولو بدو اعمالو په پریښودو کښی کامیاب نه شی، مگر باید د هغی ځخه د آینده د پاره صرف نظر شی او پریږدی. کولای شی چه په خپل زړه کښی د ټولو بدو کارونو ځخه مخ وگرځوی. هر هغه ځوک چه د خپلو گناهونو سره مینه لری او یا د دنیا سره مینه لری، نو د روح القدس حاصلولو د پاره تیار نه دی. نو باید چه د توبی ویستلو په فکر کښی شی.

یحییٰ بپتسمه ورکونکی د خپل وعظ په دوران کښی خلکو ته وویل چه د هغه چه د پاره خپل ځان تیار کړی چه په روح القدس او اور په بپتسمه ورکوی.

"زه تاسو ته په اوبو بپتسمه درکوم خو داسی کس راتلونکی دی چه هغه زما نه ډیر طاقتور دی او زه د هغهٔ د پیزار د تسمو د پرانستلو جوگه هم نه یم. هغه به تاسو ته په روح القدس او اور بپتسمه درکوی" (لوقا ۳: ۱۲).

یحییٰ خپل وعظ ته دوام ورکړ او خلکو ته ئې وویل چه ځنگه خپله توبه ویستل باید ثابته کړی. هغه هغوی ته وویل چه خپل مال په خلکو تقسیم کړی او د یو بل سره کومک وکړی (لوقا ۳: ۱۱ آیات

ولولئ). او هغه هم د ماليې اخيستونكو ته وويل چه د چل كارونه پريږدی "ستاسو د پاره چه څه مقرر شوی دي د هغی نه زيات مه آخلئ" (لوقا ۳: ۱۳). او هغه هم داسی سپاهيانو ته وويل چه "په چا ظلم مه كوئ، د چا نه په زوره څه ما آخلئ او په چا د دروغو تهمت مه لګوئ، په خپله تنخواه صبر كوئ" (لوقا ۳: ۱۴).

## د مالک لار تيار كړئ!

يحيىٰ په هم دې وعظ صبر ونه كړ مګر وئې ويل "د مالک لار جوړه كړئ، هغهٔ ته سړک نيغ كړئ!" (لوقا ۳: ۴). بايد چه د مالک لار جوړه او تياره كړو. مسيح نه شی كولای چه د هغه كسانو سره وګرځی چه په كږو وږو لار باندې ګرځيدل او تلل كوی.

خدای يهوشافاط بادشاه ته وويل "مګر په تا كښې نيک عملونه پيدا شوی دي... او خپل زړه دې د خدای طلب كولو ته تيار كړی دی" (دويم تواريخ ۱۹: ۳).

يحيىٰ چه اولين واعظ وه د روح القدس په باره كښې ئې تر دې اندازې پورې تاكيد كړی دی چه خلک بايد خپله لار د مالک په طرف سمه او نيغه كړی، نو دا د توجه او فكر وړ خبره ده. انسانان نشی

کولای چه خپل ځان قربان کړی مګر دومره کولای شی چه د خپلو ګناهونو څخه توبه وکړی. مقصد دا نه دی چه یو انسان دې خپل ځان بهتر کړی، مګر اهمه خبره دا ده چه د خدای سره د نژدی کیدو د پاره ډیره علاقه او مینه ولری. یعقوب حواری وائی "که تاسو خدای ته ورنژدی شئ، نو هغه به تاسو ته رانژدی کیږی ای ګناه ګارانو! خپل لاسونه د بدو کارونو نه صفا کړئ او ای دوه زړیو سړو! خپل زړونه پاک کړئ" (یعقوب ۴: ۸). خدای تعالیٰ د هغه خلکو په لټون کښی دی چه نه صرف د هغه برکتونه غواړی بلکه چه د هغه سره مینه هم ولری. دا علت دی چه ځینی د روح القدس بپتسمی په سطحی ډول سره وی ځکه چه د دغه خلکو مینه هم د خدای سره په سطحی ډول وی.

## د روح القدس فوری پیدا کول.

مونږ پوهیږو او هم دا رنګ خلکو ته تعلیم هم ورکوو چه هغوی دې روح القدس په فوری طور سره پیدا کړی! هر کله چه زړه تیار وی، نو د خدای برکتونه بې له کوم ځنډ څخه نازلیږی. یوه لویه بیداری چه د حزقیا په وخت کښی منځ ته راغله له همدې وجه نه وه.

"حزقیا او قوم ئې خوشحالی وکړه ځکه چې خدای ټول قوم تیار کړی وه نو ځکه دا کار ناڅاپه واقع شو" (دویم تواریخ ۲۹ : ۳۶).
د خدای تعالٰی خوښه او ارزو دا ده هغه څوک چه د زړه تنده لری چه روح القدس حاصل کړی. هر کله چه پولوس د دمشق په لار کښی خلاصون حاصل کړو، هغه ته اجازه ورکړای شوه چه باید دری ورځو پوری په دعا کولو کښی مشغول اوسی. دا یو ښه وخت وه د زړه د پاره او د فکر کولو د پاره چه ئې د نوی ژوند په باره کې وکړی چه ئې په مخ کښې درلود. هر کله چه مالک حنانیا ته وویل چه لاړ شه او خپل لاسونه په پولوس باندې کښیږده تر څو چه هغه روح القدس حاصل کړی. هغه وجه چه د مالک له طرفه ئې ذکر وشو دا وه "چه دعا کوی" هر کله چه په پولوس باندې لاسونه کیښودل شول سمدلاسه ئې روح القدس حاصل کړو. هر کله چه د مالک فرښته کورنیلیوس ته ښکاره شوه او دا ورته وښیی چه څنګه مالک ته نژدی کیدلی شی نو هغه ته ئې وویل
"ستا دعا ګانی او خیراتونه خدای قبول کړی دي او اوس تا له جواب درکوی" (اعمال ۱۰ : ۴). کورنیلیوس خپل زړه تیار کړی وه. هر کله چه د خدای کلام هغوی ته وعظ کړی شو نو روح القدس په ټول کور نازل شو. باید چه دې اهم نکتی ته پام وکړو چه مخکښې له دې نه چه

د انسان فکر او زړه روحانی ژبو ته چمتو شی، نو باید د انسان روح د روح القدس حاصلولو د پاره آزاد او خلاص وی.

## د روح القدس د حاصلولو په باره کښې د نوی عهد او زوړ عهد فرق.

اجازه راکړی چه د روح القدس د حاصلولو په باره کښې د نوی عهد او زوړ عهد دوه فرقونو ته اشاره وکړم.
اول فرق د حضرت مسیح په وسیلی سره ئې په یوحنا ۱۴: ۱۶، ۱۷ کښې ذکر شوی دی.
"او زه به پلار ته خواست وکړم چه تاسو ته بل مدد ګار درکړی څوک چه به تاسو سره مدام وی، او هغه به د حق روح وی، دنیا هغه نه شی قبلولی ځکه چه دنیا نه خو هغه وینی او نه ئې پیژنی خو تاسو ئې پیژنی ځکه چه هغه تاسو سره اوسی او په تاسو کښې وی." د دې آیات څخه کولای شو چه پوهه شو چه شاګردانو د پنتکست د اختر څخه مخکښې هم روح القدس درلوده په یوحنا ۲۰: ۲۲ کښې داسی لولو "بیا ئې په هغوی وپوکل او وئې ویل روح القدس واخلئ!" په دې کښې هیڅ شک نشته چه دوی څه اندازه روح القدس درلود، مګر پوره ډک

نه وه. روح القدس د هغوی سره وه، مګر د پنتکست اختر په ورځ راغی او په هغوی کښې داخل شو او اوسیدو. دغه اوسیدل د روح القدس د مخکښې وخت په شان یا د زوړ عهد د وخت په شان موقتی او یا تر مرګه پوری نه وه بلکه تر ابده پوری به دوام ولری.

## یو بل فرق- په نا آشنا او روحانی ژبو خبری کول.

یو بل فرق د نوی عهد او زوړ عهد تر منځه دا دی چه په روحانی ژبو خبری کول. په روحانی او نا آشنا ژبو خبری کول بلکل د زوړ عهد د مقدسینو پوری مربوط دی. یشعیاه نبی د دې موضوع پیشګوئی وکړه او وئې ویل چه یوه اعلی تجربه وی. "ځکه چه په ساده او تتو ژبو سره به دې قوم ته خبری وکړم دوي ته وویل شو چه راحت هم دا دی چه ستړی او ستومانه آرام کړی او په حقیقت کښې آزادی هم دا ده ولی دوی نه غوښتل چه ورته غوږ کښیږدی" (یشعیاه ۲۸: ۱۱، ۱۲).
په دې ځای کښې یشعیاه نبی د نا آشنا او روحانی ژبو په باره کښې پیشګوئې کوی چه د روح القدس د بپتسمی سره په یو ځای وی او د ستړو د استراحت سبب به ګرځی. د یشعیاه نبی د وینا نه د موضوع اهمیت ته راګرځو. په نا آشنا ژبو سره خبری کول صرف د روح القدس

د بپتسمی نخښه نه ده، بلکه د روح القدس د بپتسمی څخه یو اهم اساس او بنیاد دی. امکان لری چه یو انسان د زوړ عهد د وخت په شان روح القدس بې له روحانی ژبو څخه ولری مګر دا ښکاره خبره چه تر اوسه پوری دی لا پوره د روح القدس څخه ډک شوی نه دی. ځکه چه په نا آشنا ژبو سره خبری کول د نوی عهد په مطابق د روح القدس د بپتسمی نه بلیدونکی جز دی د دې امر څخه دا واضح ده چه د روح القدس بپتسمه دوه مهمی برخی لری.

## یوه حساسه نکته

ډیرو خلکو روح القدس حاصل کړے دی، مګر یوائینی خالیګاه د روح القدس د معموریدو په باره کښی چه لری هغه دا ده چه د روح القدس د ژبو په باره کښی ورته تعلیم ورکړای شی، تر څو دوی ته روحانی ژبی ورکړای شی. که چیری دغه خلکو ته په صحیح طریقی سره تعلیم ورکړای شی، نو په یو څو لحظو کښی به په روحانی ژبو خبری وکړی. که هر څومره کالونه ئې د روح القدس د بپتسمی انتظار کړی وی. په همدې وخت کښی که چیري یو نوی ایماندار ته د خدای تعالٰی د نقشی په باره کښی معلومات محدود کړی وی، نو یو

خام کار به مو کړی وی. اول دا ضروری دی چه روحانی حقیقتونه یو نوی ایماندار ته وښایو. هغه باید د بپتسمی د معنی او مفهوم په باره کښی پوهه وی او د روح القدس د پیدا کولو د پاره په خپل زړه کښی یو حقیقی او رښتینی تنده ولری. او که چیری مخکښی له دې نه چه هغه باندې فشار واچوو چه د روح القدس بپتسمه باید ولری، نو یو ناپوهه کار به مو کړی وی.

هر کله که د پولوس رسول غوندی آسمانی رویا ووینو او د روحانی حقیقونو پسی شو، نو د مالک جلال ته به متوجه شو او نور به دنیا مونږ ته کوم قیمت ونه لری په دغه وخت کښی به مونږ د روح القدس بپتسمی ته تیار او حاضر اوسو. او هر کله چه حاضر شو، نو نوره لټی په کار نه ده. ولی په هر حال کښی د روح القدس د بپتسمی څخه دغه آسمانی رویا ولرو (حبقوق ۲: ۳). لکه د ټولو روحانی برکتونو غوندی د انسان زړه د دې کار په باره کښی تیار او حاضر وی.

# خلاصه

۱- د خدای د روح القدس نازلیدل د ځه خاص ځای او وخت او کردار پوری موقوف او محدود نه دی. د رسولانو په وخت کښې د داسی کار د پاره د لاس ایښودنی کار اجرا کیده او د زوړ عهد په دوره کښې هم د دې کار ځخه استفاده کیدله. موسیٰ په یوشع باندې لاس کیښود چه روح القدس ومومی (تورات استثنا ۳۴: ۹).
د روح القدس د بپتسمی ځخه مخکښې دعا کول او د زړه تیارول ډیر اهمیت لری. د پنتکست اختر په روځ د روح القدس نازلیدو ځخه د مخه ۱۲۰ یو سلو شل نفره "په عبادت او دعا کولو کښې مصروف وه"
(اعمال ۱: ۱۴ ته وګوری).
رسولانو مخکښې له دې چه سامریانو باندې خپل لاسونه کښیږدی د هغوی د پاره ئې دعا وکړه (اعمال ۸: ۱۵ آیات وګوری). د کورنیلیوس دعاګانی او روژی د خدای په یاد شوی او قبولی شوی او پس له هغی نه ئې خپله فرښته هغه ته ور ولیږله چه هغه ځه وکړی چه روح القدس په ده او ټوله کورنی ئې نازل شی
(اعمال ۱۰: ۲-۴ آیات پوری ولولئ).

پولوس ته اجازه ورکړای شوه چه مخکښې له لاس ایښودو نه د روح القدس د حاصلولو په خاطر دری ورځې روژه ونیسی او عبادت وکړی.

**۳**- دا خبره هیڅکله هم هیره نه کړو چه ډیر خلک خاص په دې اخری ورځو کښی پس له ډیر لږ تعلیم څخه روح القدس حاصلوی ولی په هم دغه وخت کښی مونږ ته تعلیم راکړ شوی دی چه "لا په هیچا لاسونه زر مه ږدی" باید د شمعون جادوګر په شان کسان وپیژندل شی او له ډلی څخه جدا کړای شی او یا دا چه اول توبه وکړی او پس له هغی نه په هغوی لاسونه کیښودل شی
(اعمال ۸: ۱۸-۲۴ آیاته پوری ولولئ).

**۴**- هر کله چه اسان شرطونه چه په مقدس کتاب کښی ئې ذکر شوی دی چه هغوی په ایماندارانو لاسونه کیښودل او هغوی د روح القدس څخه معمور شول. نو همدغه شان چه ایماندار د روح القدس د پیدا کولو په لټون کښی دی خپل لاسونه کیښیږدی هغه به سمدستی روح القدس بیا مومی.

**۵**- اخری خبره چه باید ذکر شی هغه دا ده چه ځینی په مختلفو او نا آشنا ژبو سره خبری کوی، ولی کومه فایده ئې چه د روح القدس څخه اخیسته دومره ډیره نه ده. د دې خبری علت دا کیدای شی چه ایمان

ئې ضعيف وی او يا دا چه په خپل زړۀ کښې د روح القدس پيدا کولو د پاره دومره تنده نه درلوده.

عيسیٰ وفرمايل "بختور دی هغوی چه د صداقت وږی تږی دي دوي به ماړۀ کړای شی" (متی ۵: ۶).

هر کله چه د يو انسان زړه د روح القدس پيدا کولو د پاره تږی وی حتماً به ډک شی.

# څلورم باب

## په روح کښې دعا کول.

"هغه کسان چه د مالک انتظار کښې وی تازه قوت به پيدا کړی" (يشعياه ۴۰: ۳۱). "تر څو چه هغه هغوئ سره ملګری وو نو هغوئ ته ئې حکم ورکړو چه د بيت المقدس نه مه وزئ او دا ئې وويل چه تاسو خامخا انتظار وکړئ د دې د پاره چه هغه وعده چه زما پلار کړی ده او ما ئې تاسو ته ذکر کړی دی، پوره شی. او لکه چه تاسو ته معلومه ده چه يحيیٰ به په اوبو بپتسمه ورکوله خو تاسو ته به په روح القدس بپتسمه درکړای شی او دا به لږی ورځی پس وی" (اعمال ۱: ۴، ۵).
"روح القدس هم په دې شان زمونږ په کمزورتياو کښې مدد کوی. مونږ ته دا هم نه ده معلومه چه دعا څنګه کول په کار دي خو روح القدس په اسويلو زمونږ شفاعت کوی چه په لفظونو کښې نه شی بيان کيدلای" (روميان ۸: ۲۶). "څوک چه په روحانی ژبه کښې خبری کوی نو هغه د خلقو سره نه، بلکه د خدای سره خبری کوی، ځکه چه

ځوک د هغهٔ په خبره پوهیږی نه اګر که هغه د روح په وسیله د راز خبری کوی" (اول کورنتیان ۱۴: ۲).

"د دې د پاره که زه په دعا کښې هم دغه شان ژبه استعمالوم نو زما روح خو دعا کوی ولی عقل مې بې کاره دی. نو بیا څه کول پکار دی؟ زه به په روح کښې هم دعا غواړم او په عقل کښې به هم دعا کوم زه به په روح کښې هم د ثنا سندرے ووایم او په عقل کښې هم" (اول کورنتیان ۱۴: ۱۴، ۱۵).

"زه به په دې خوشحاله یم چه تاسو ټول په روحانی ژبو کښې خبری کوئ خو زیات دا غواړم چه تاسو د نبی په شان د خدای کلام د آورولو توان لری... " ځکه چه کلیسا آباده شی (اول کورنتیان ۱۴: ۵).

"خو ځوک چه د خدای کلام آوروی هغه د خلقو سره د آبادئ او نصحیت او د تسلی خبری کوی"

(اول کورنتیان ۱۴: ۴).

"نو کله چه تاسو د روحانی نعمتونو خواهش لرئ نو داسی کوشش کوی چه ستاسو دا نعمتونه د جماعت د ترقئ د پاره وی" (اول کورنتیان ۱۴: ۱۲).

خو زه به په جماعت کښې د نورو د تعلیم او د پوهی د پاره تشی پنځه خبری غوره ګڼم په ځای د دې چه په روحانی ژبه کښې لس زره خبری

وکړم" (اول کورنتيان ۱۴: ۱۹). ولی پولوس د شخصی عبادت په باره کښی فرمائي چه "د خدای شکر کوم چې زه له تاسو نه زيات په روحانی ژبو کښی خبری کوم" (اول کورنتيان ۱۴: ۱۸).
هر کله چه يو انسان په خپله نه وی تيار شوی، نو څنګه کولای شی چه بل تيار کړی او جوړ ئې کړی هم دا وجه وه چه پولوس رسول په روحانی ژبو کښی خبری د خپل ځان تياريدل ګڼل، هم دا وجه ده چه کولای شو چه په کشف، علم يا نبوت يا په تعليم ورکولو سره کليسا آباده کړو (اول کورنتيان ۱۴: ۲ آيات ته وګوری). هغه فرمائی چه "کله چه... د خدای په کور کښی دعا کوله چه زه بې خوده شولم" (اعمال ۲۲: ۱۷). دا په روح کښی دعا ده. پطروس هم په روح سره دعا وکړل. "نو د غرمی مال پطروس د دعا د پاره پاس کوټی ته وختلو" (اعمال ۱۰: ۹). زه د يافا په ښار کښی وم او دعا مې کوله چه بې هوشه شوم او رويا مې وليده چه د لوی ځادر په شان يو څيز چه په څلورو ګوټونو د آسمان نه راښکته کيدو او ما ته را ورسيدو (اعمال ۱۱: ۵). هم دا رويا د امتونو په منځ کښی د مسيحيت د شروع سبب شوه. دا د مسيح د زيری ورکولو په باره کښې اولين قدم وه په روح سره دعا وه چه پطروس سره ئې کومک وکړ چه هغه لوی او عظيمه دنده سر ته ورسوی. "لاړ شی او ټول امتونه زما مريدان کړی" (متی

۲۸: ۱۹). پطروس په یافا کښې له دې رویا د لیدلو څخه مخکښې انجیل زیری "د یهودیانو نه غیر نور هیچا ته هم نه وه آورولې" (اعمال ۱۱: ۱۹).

د پورتني آیات څخه معلومیږی چه د روح القدس ډیر زیات احتیاج دعا او عبادت کولو یا سرود ویلو په وخت کښې لیدل کیږی کله چه انسان په روحاني ژبو خبری وکړی او سندری ووائی او دعا وکړی دا په حقیقت سره په روح کښې دعا کول دي.

"خو وخت راتلونکی دی بلکه اوس هم دی چه رښتینی سجدی کوونکی به آسمانی پلار ته په روح او په رښتیا سجدی وکړی او پلار هم دغه شان عبادت کوونکی غواړی. خدای روح دی او هر څوک چه د هغهٔ عبادت کوی هغه دې هم په روح او په رښتیا سره د هغه عبادت وکړی" (یوحنا ۴: ۲۳-۲۴).

"خو کله چه د حقیقت روح راشی نو هغه به تاسو ته دا ټول حقیقت وښیی ځکه چه هغه به د خپله ځانه هیڅ نه وائی، خو هغه څه به وائی کوم چه آوری او هغه به تاسو په راتلونکی واقعاتو خبر کړی" (یوحنا ۱۶: ۱۳).

آیا تاسو غواړی چه مسیح ته جلال ورکړی؟ غواړی چه د مسیح په فکر پوهه شی؟ آیا غواړی د راتلونکو واقعو نه باخبره اوسی؟ په دې

وخت کښې روح القدس ته اجازه ورکړی چه په تاسو کښې داخل شی په تاسو او ستاسو په واسطه په مختلفو او نا آشنا ژبو سره دعا وکړی ځکه چه انسان همیشه په ژبو خبری کوی او دعا کوی. لکه څنګه چه روح القدس "د خبرو طاقت" ورکړی (اعمال ۲: ۴).

## یو حقیقی اقرار.

د کلیسا ځینی مشران او زیری ورکوونکی ماته راغلی دی او داسی ویلی دی چه "ډیر وخت مخکښی مې د روح القدس بپتسمه اخیستہ ده په هغه وخت کښی مې لږ شان په روحانی ژبی خبری وکړی دا صرف یو نخښه وه" (اول کونتیان ۱: ۲۲ آیات ته وګوری). مګر پس له دې نه مې هیڅ په نا آشنا ژبو سره خبری نه دي کړی او د روح القدس یو نعمت هم په ما کښی کار نه کوی هر څومره چه دعوه کوم چه د روح القدس بپتسمه مې اخیستی ده، خو خدای زما یو کار ته هم برکت نه ورکوی. دا محسوسوم چه څنګه د روح القدس څخه ډک کیدل مناسب دي هم هغسی ډک نه یم. آیا د دې کار سبب دا دی چه په روحانی ژبو سره مې دعا نه ده کړی؟ باید په ساده ډول سره ووایم چه د پورتنی سوال جواب مثبت دی. تاسو د دعا د برکت او په روح

سره د عبادت کولو څخه محروم شوی یئ. تاسو په عقل سره دعا کړی ده او ستا فکر هم ډیر زیات فعال وه خو ستاسو روح وړی پاتی شوی دی. ځکه چه په روح سره مو د دعا کولو نه غفلت کړی دی. د ځانته عبادت په وخت کښی په روح سره دعا کول ډیر اهمیت لری او هم په کلیسا کښی کولای شی چه په روحانی ژبو سره خبری وکړی (اول کورنتیان ۱۴: ۲۸ ولولی). تاسو د خپل ځان د آبادولو او بنا کولو څخه غفلت کړی دی او اوس مو دې ته پام شو چه کلیسا څنګه آبادول په کار دی او روحانی نعمتونه په نبوت کول څنګه کول پکار دي نو اوس نه شی کولای چه دا کار وکړی.

امکان لری چه تاسو ته دا سوال پیدا شی چه آیا په روحانی ژبو سره خبری کول د روح القدس د کم اهمیتو نعمتونو څخه نه دی؟ هو، دا رښتیا خبره ده. ولی په هم دې دلیل سره چه تاسو اول د روح القدس د کم اهمیتو نعمتونو څخه استفاده او شروع وکړی، نو د روح القدس نور مهم نعمتونه او برکتونه به تاسو ته درکړای شی. په نا آشنا ژبو سره دعا کول لکه څنګه چه ستاسو په ابادولو کښی کومک کوی هم دا شان به زر وکولای شی چه کلیسا هم آباده کړی. روح القدس اول تاسو آبادوی او بیا ستاسو په وسیلی سره کلیسا آباده وی.

# یو ضروری خبرتیا!

آیا ټول رسولان دي څه؟ (اول کورنتیان ۱۲: ۲۹) مګر نه. په تاسو ټولو کښې په یو وخت کښې یو کس د نبی په شان کلام کولای شی، د دې د پاره چه ټول ئې زده کړی او تسلی موندلی شی (اول کورنتیان ۱۴: ۳۱). هم دا شان ۲۴ آیات ته پام وکړی چه وائی که چیري ټول نبوت کوی "آیا ټول قسما قسم ژبی وائی څه؟" (اول کورنتیان ۱۲: ۳۰) مګر نه پولوس رسول وائی "زه په دې خوشحاله یم چه تاسو ټول په روحانی ژبو کښې خبری کوی" (کورنتیان ۱۴: ۵).

"د خدای شکر کوم چه زه له تاسو نه زیات په روحانی ژبو کښې خبری کوم" (۱۸ آیات). "نو بیا که ټول جماعت یو ځای راغونډ وی او روحانی ژبی وائی" (۲۳ آیات). ټول کولای شی چه خپل شخصی عبادت کښې روحانی ژبی استعمال کړی مګر په جماعت کښې دوه یا زیات نه زیات دری کسان دې وار په وار خبری وکړی او څوک دې خامخا تشریح کوی (اول کورنتیان ۱۴: ۲۷ ولولئ).

"تاسو دې د ټولو نه د لویو نعمتونو خواهش ولرئ. خو اوس به ئې زه تاسو ته د ټولو نه غوره طریقه وښیم" (اول کورنتیان ۱۲: ۳۱).

د کلیسا د آبادولو د پاره بله هیڅ طریقه نشته بې له ایماندارانو او د کلیسا د غړو د مختلفو نعمتونو څخه باید ټول ایمانداران په جمع سره وغواړی چه روح القدس د ټولو څخه خپل ښه نعمت ظاهر کړی. "خو دا ټول تاثیرونه هغه یو روح کوی او چا ته ئې چه غواړی هغه ته ئې ورکوی" (اول کورنتیان ۱۴: ۱۱). "که چیري زه د فرښتو او بنی آدمو په ژبه خبری کوم او مینه نه لرم نو زه ټنګیدونکی پیتل یا شرنګیدونکی چڼچڼی یم." (اول کورنتیان ۱۳: ۱).
ځینی د هم دې آیات په مطابق وائی چه روحانی یا د نا آشنا ژبو خبری کول هیڅ فایده نه لری. آیا داسی عقیده لرل صحیح خبره ده؟ "که زه خپل ټول مال په خلقو وخوروم تر دې چه خپل بدن سوزولو ته ورکړم، خو که زه مینه نه لرم نو هیڅ فایده نشته" (۳ آیات). آیا د دې آیات نه دا نتیجه واخلو چه څومر خیریه موسسی چه محتاجو او کمزورو خلکو د مرستی د پاره دي دا بې فایدی دي څه؟ دا مؤسسی د مسیحی محبت او مینی د خپرولو د پاره ډیر ضروری دي. نو په هم دې دلیل دې هیڅوک روحانی ژبی بې فایدی ونه ګڼی.
که چیري مونږ د بنی آدمو او فرښتو په ژبو خبری وکړو او محبت هم ولرو نو څه چل به وشی؟ په دغه وخت کښی به زمونږ کلام د خدای کلام وی. دا به ستاسو مال وی په دې شرط چه تاسو مسیح سره تعلق

ولري "د مالک خدای سره د زړه په راستی، په پوره روح او په پوره عقل سره مینه لري" (متی ۲۲: ۳۷). "د خپل ګاونډي سره د خپل ځان په شان مینه کوئ" (۳۹ آيات). "په دې وجه مونږ پوهیږو چه مینه څه ده، ځکه چه مسیح زمونږ د پاره خپل ځان ورکړو او مونږ له هم په کار دي چه خپل ځانونه د خپلو وروڼو د پاره ورکړو" (اول يوحنا ۳: ۱۲).
"نو ځکه ای زما وروڼو، لنډه دا چه د نبی په شان د کلام کولو خواهش لرئ او په روحانی ژبه کښی خبری کول مه منع کوئ" (اول کورنتیان ۱۴: ۳۹). مګر ای ملګرو تاسو هغه خبری رایادی کړی چه زمونږ د مالک عیسی رسولانو کړی دي او تاسو ته ئې خبر درکړی دی.
"دا ګوریدونکی او شکایت کوونکی خلق دي، هغوی په خپلو خواهشاتو پسی ځی، هغوی د خپل ځان په حقله غټی غټی خبری کوی او د خپل مقصد د پاره خلقو ته ښی خبری کوی" (یهوداه ۱۲ آيات). دا هغه کسان دي چه بې اتفاقی پيدا کوی او نفسانی دي او روح نه لري (اول کورنتیان ۲: ۱۴ ته وګوری). مګر ای ملګرو تاسو د خپل مقدس ايمان په وسيله خپل ځان آباد کړی دی او په روحانی ژبو کښی د دعا کولو په وسيله (اول کورنتیان ۱۴: ۴ او د روح القدس په وسيلی عبادت کوی یهوداه ۱۷-۲۰ آياته پوری ولولی).

"او هر وخت په هر شان په روح القدس کښې دعا کوئ او زاری کوی، او د دې د پاره بیدار اوسی او د ټولو پاکانو د پاره بې ناغې دعا کوی" (افسیان ۶: ۱۸). "او خدای څوک چه زمونږ د زړونو لیدونکی دی، هغه ته دا معلومه ده چه د دې روح القدس خیال څه دی ځکه چه هغه د خدای د خلقو د پاره د خدای د مرضۍ په مطابق شفاعت کوی" (رومیان ۸: ۲۷).

زه دا غواړم چه ټول زیری ورکونکی او د کلیسا مشران د هغې قوی بپتسمې په ارزو کښې وی چه د ټولو څخه اعلی بپتسمه ده (متی ۳: ۱۱، اعمال ۱: ۵ آیاتونه ولولئ). نو هر کله چه روح القدس د خبرو کولو قدرت در کوی او په نورو ژبو مو خبری وکړی (اعمال ۲: ۴). د خدای عبادت ته په ورح او راستئ سره دوام ورکړی. تر څو چه تاسو آباد شی او ستاسو کارونه د کلیسا د پاره فایده مند وی. په روحانی ژبو باندې د خبرو کولو څخه غفلت مه کوی او مه څوک د دې د ویلو څخه منع کوی.

# پنځم باب

## روح راته وويل چه لاړ شم

د خدای په کلام په اعمال د رسولانو کښې دا خبره ښکاره ده چه اولين قدرت او طاقت د کليسا د روح القدس څخه عبارت وه.
روح القدس چه د انسانی عقل او حکمت څخه لوی دی په هر وخت کښې په مختلفو طريقو سره هدايت او رهنمائی ورکوی. لومړی کليسا چه په پوره او مکمل طور سره د روح القدس په هدايت سره اطاعت او تابعداری کوله. په هم دې دليل سره وايو چه فيلپوس يو د خادمانو څخه وه او د اورشليم څخه د ميسحيانو سره خارج شوی وه په سامريه کښې ئی وعظ کاوه. هغه کس چه د مالی د راټولو د پاره مقرر شوی وه ناڅاپه يو لوی واعظ باندې تبديل شو چه د مسيح وعظ نورو ته ورسوی. په اعمال د رسولانو کښې وايو چه دوي به چه چيرته تلل هلته به ئې د خدای د کلام وعظ او زيری خلکو ته کولو.
دا يو داسی کار وه چه هيچا ورځينی غفلت نه کاوه. په هغه وخت کښې موضوع دا نه وه چه د کليسا د يو رسمی کار د پاره په يو کس

باندې لاس کېښودل کېده، مګر موضوع د روح القدس د معموريدو او د شهادت ورکولو څخه عبارت وه. کيدای شي چه څوک دا سوال وکړي چه ولې دوی د کومې سختۍ او جفا سره مخامخ شوی نه وه؟ هو، دا صحيح خبره ده چه يو کس د سولوس طرسوسي په نوم ياديده چه د دې جفا کارانو مشر وه. سولوس به هميشه کليسا عذابوله. مګر دوی که هر څومره کليسا او مسيحيانو ته تکليف ورکاوه خو بيا هم هغوی خپل کار او فعاليت مخکښې بوتللو. او کليسا د روح القدس په قدرت سره ترقي کوله. سولوس ونشو کولای چه کليسا بنده کړي مګر مالک هغه په خپله بند کړ.

زه پوهيږم او يقين لرم چه مسيحيانو د دغو جفاکارانو څخه د خلاصون د پاره دعا کوله. زه ډير دا غواړم کله چه جنت ته لاړ شم او د دې پاکانو څخه دا سوال وکړم چه دوی به څنګه دعا کوله.

کيدای شي چه هغوی داسې فکر کاوه چه مالک به سولوس ختم کړي، فکر نه کوم چه هغوی به د هغه د ايمان راوړلو د پاره دعا کړي وي. ځکه چه هر کله چه هغه ايمان راوړو، نو هغوی پرې باور نشو کولای. تر ډير وخت پورې ئې په سولوس باندې د ځان سره په شامليدو باور نشو کولای سولوس د هغو کسانو رهبر او مشر وه چه استيفان ئې هم سنګسار کړی وه. استيفان يو له خادمانو څخه وه چه

وعظ به ئې کاوه. دا وعظ کول هغه ته کليسا نه وه ويلی مګر دا هغهٔ
د هغه خدمت په مطابق کاوه چه حضرت مسيح ورته سپارلی وه. او
خدای هم ورته سپارلی وه. استيفان د خپل استاذ وفادار پاتی شو او
داسی دعا ئې وکړه "مالکه دوی په دې ګناه مه نيسه" خدای تعالی دا
دعا قبوله کړه سولوس طرسوسی ئې معاف کړ کوم کار چه استيفان
کولو هم هغه کار ئی ده ته وسپارلو. خدای د خپل کار د اجرا کولو د
پاره سولوس يی "زوړ انسان" سولوس طرسوسی مړ شو او نوی انسان
"پولوس رسول" په نوم چه د روح څخه پيدا شو. پولوس د يو شاګرد
پوسيله د دمشق په لار روح القدس حاصل کړو. نور ئې د مخکښی په
شان خلکو ته د مسيحيانو د عذابولو حکم نه ور کاوه مګر له روح
القدس څخه ئې حکم حاصلولو.

هغه تر دې حده پوری ورسيده چه هغه شاګردانو چه د ده پواسطه ئې
ايمان راوړی وه ووينی مګر هغوی ئې ونه ليدل ولی؟ ځکه چه روح
القدس هغه منع کولو. يو ورځ هغه غوښتل چه چيري لاړ شی خو روح
القدس ورته اجازه ور نه کړه.

روح القدس به د کليسا رهبری کوله. روح القدس هميشه غوښتل چه
د کليسا رهبری وکړی او د مسيح پيغام ټول جهان ته ورسوی او تل په
خپل کار کښی مصروف وه. روح القدس به هميشه د هغه کسانو

تلاش کاوه چه هغه ته به ئې خپل ځان تسلیموه تر څو چه هغه په هغوی کښې خپل ځان ښکاره کړی چه د معجزو او نورو کارونو په وسیله ښځې او نران د مسیح طرف ته راولی. مونږ د روح القدس په باره کښې خبری کوو چه هغه په دنیا کښې څه کار کوی. ومو لیدل چه څنګه لوی کار روح القدس د کورنیلیوس په کور کښې وکړ چه د یهودو او د نورو امتونو تر منځ ئې د جدائی دیوال وران کړ. اوس روح القدس د هغه موانع په طرف کار کوی چه کوم ئې مخ ته راځی دا ضرور وه چه انجیل د آسیا څخه نورو هیوادو ته لاړ شی. د خدای تعالٰی روح پولوس یونان ته وغوښت. دغه دعوت د پولوس د خدمت طریقی ته تغیر ورکړ او هم ئې د کلیسا تاریخ ته تغیر ورکړ. او هم د جهان د تاریخ د تغیر سبب شو. کلیسا او زیری ورکول یو له بل څخه جدا نه وه. کلیسا په هر ځای خپل کار کښې مصروفه وه یا روح القدس کلیسا پواسطه په خپل کار کښې مصروف وه. هر کله چه یو جماعت د روح القدس څخه معمور وی او کار کوی نو د کلیسا او زیری ورکول په یو ځای وی.

پولوس او سیلاس د روح القدس پوسیله سره اروپا ته لاړل په هغه ځای کښې کلیسا موجوده نه وه. نه پوهیدل چه هغه چا چه په رویا کښې دوی ته خپل ځان ښودلی وه چیرته دی. مګر خپل وخت ئې د

هغه په پيدا کولو کښې تير نه کړ. ليکن هر کله چه اول د سيند په غاړ ئې يو ګروپ وليد، نو هغوی ورغلل او وعظ ئې ورته وکړ. ډير زر هغوی ونيول شول او پس له وهلو ټکولو څخه بندی خانی کښې واچول شول. زه په خپل خيال کښې فکر کوم چه سيلاس د پولوس نه سوال وکړ چه کومه رويا چه دوي ليدلی وه آيا حقيقی وه او که نه؟ آيا دوی يقين درلوده چه خدای تعالیٰ دوی هغه ښار ته راغوښتی دي؟ بايد چه دا نکتنه تاسو ته تشريح کړم چه د روح پواسطه هدايت کيدل دا تضمين نه ورکوی چه بې له کوم تکليف څخه به وی او يا کوم مشکل سره به مخامخ نه شی. روح القدس لری نه ځی، خو مستقيماً مونږ خپل مرام او هدف ته رسوی. دا دوه کسان په ځای د دې چه د روح القدس په باره کښې څه شکايت وکړی خو په بندی خانه کښې په ثنا صفت مشغول شول.

هر کله چه دوي په ثنا صفت او سندرو ويلو کښې مشغول وه چه ناڅاپه زلزله شوه او د بندی خانی دروازی خلاصی شوی. د بندی خانی مشر او کورنۍ ئې نجات حاصل کړو. د خدای تعالیٰ کارونه څنګه عجيبه او حيرانوونکی دي.

هر کله چه دا کار کيدو نو فساد په هر ځای کښې خپل کار کړی وه. ټول اخلاقی قانونونه له منځه تللی وه او ده خلکو وجدان ډير کمزوری

شوی وه په داسی ځای کښی هم د مسیح کلیسا پیدا شوه، مګر شاګردانو نه کوم مال دولت درلوده او نه ئې کوم اجتماعی مشهورتیا درلوده او نه ورسره د حکومت نه کوم کومک او نه ورسره له کوم تنظیم لخوا کومک وه. دوي هغه کسان وه چه ډیر ضعیف او بې علمه او بې تجربی خلک وه. تر دې اندازی پوری چه مسیحی عبادت د پاره یې کوم ځای هم نه درلوده. د دنیا ټول قدرتونه او رواجونه د هغوی په خلاف وه. هغوی به سپکولی شول. بدی خبری به ئې د خلکو ځینی اوریدلی او وهل کیدل به، ختی تر دې چه په قتل به هم رسیدل. مګر دغه اول مسیحیانو د روح القدس قدرت او طاقت درلود. په هم دې دلیل سره د دنیا د ټول تیاره طاقتونو سره مخامخ شول دوی کامیاب شول. او د اویا کالو په دوران کښی تقریباً نیم میلون خلک په مسیحی مذهب باندې مشرف شول. ځکه چه د روح القدس کومک د کلیسا سره وه او دوي وکولای شو چه په ډیر کم وخت کښی څلور زره واره نور هم زیات شی.

هم دغه موضوع کولای شو چه په دې شلمه صدی کښی هم پنتکستی تحریک کښی مقایسه کړو.

اجازه راکړی چه هغه ځایونو ته مې سفر کړی دی تاسو ته د مثال په طور تشریح کړم. او د هغه ځایونو په باره کښی تاسو خبر کړم.

کولاې شو چه په برازيل کښې يو پنتکستي تحريک مطالعه کړو چه په جنوبي امريکا کې واقع دی. دا تحريک تقريباً پنځوس کاله دمخه شروع شوی دی چه يو دوه امريکايانو چه اسکنديناوی نسله وه دا احساس وکړ چه خدای دوی برازيل ته دعوت کوی. دغه کسان هيڅ کومې موسسی يا مبشرينو هلته نه وه ليږلی. هغوی په ډير ساده ايمان سره هلته لاړل چه نن ورځ ورته ځينی خلک احمقی وائی. هغوی په ډير ساده ډول وعظ کاوه او خلکو ته به ئې ويل چه عيسی مسيح خلاصوونی، شفاعت کوونکی او قوی او باقدرته بپتسمه ورکوونکی دی او هم بادشاه دی چه ډير زر به راشی. ډيری معجزی د دوي په لاس سر ته ورسيدلی او هم دا وجه وه چه ځينو برازيليانو ايمان راوړو. نو نوی ايماندارانو هم خلکو ته شهادت ورکاوه او نورو خلکو د پاره به ئې دعا هم کوله. ډيری معجزی سرته ورسيدی ډير زر انجيل ټول ملک کښې خپور شو او کليسا ګانی آبادی شوی. تر اوسه پوری چه کوم کليساګانی د دې تحريک پواسطه منځ ته راغلی يو زرو پنځه سوه (۱۵۰۰) او د کليسا د غړو تعداد تقريباً يو سلو څلور ميلونه خلکو ته رسيږی.

دا خبره بايد ياده کړم چه پنتکستي کار په برازيل کښې صرف د دې تحريک پوری مربوط نه وه. تقريباً په هم هغه وخت کښې چه دا دوه

ورونه برازيل ته لاړل يو بل ورور چه ايټالوی نسله له شيکاګو څخه هم برازيل ته لاړ چه خدای تعالی هغه برازيل ته دعوت کړی وه. هغه يواځی دغه ملک ته لاړ او د دې نورو ورونو په باره کښی ئې هيڅ اطلاع نه درلوده. اول يو نفر خلاصون حاصل کړ او بيا يوی کورنۍ او بيا تقريباً يو جماعت تشکيل شو. نن ورځ تقريباً په برازيل کښی يو نيم زر جماعتونه او تقريبا يو سلو څلور ميلونه خلک مسيحيان دي. د آخری مردم شماری په مطابق د پنتکستی تحريک تعداد تقريباً د دوه ميلونه نفرو څخه زيات دی.

د پنتکستی کليسا يوه بله نمونه د دې تحريک د ويښوالی په باره کښی نتی دور کښې د ايټاليا مملکت دی. ډيرو خلکو دا احساس وکړ چه د پنتکستی کليسا تاسيسول په دې ملک کښې غير ممکن کار دی. يو له سفرونو څخه مې چه وکړ دا وه چه د روم يو ښار ته لاړم او هلته مې والدنسی کليسا مشرانو سره خبری اتری وکړی. هغوی راته وويل چه ډيره زمانه تيره شوه چه په ايټاليه کښی کار کوی خو هيڅ ترقی نه کوی. هغوی ماته دا هم وويل چه پنتکستی تحريک د څلويښتو کالو په موده کښې د څلور پيړو په اندازه کار کړی دی. کوم کار چه والدنسی کليسا په دې تيرو څلور پيړو کښی کړی دی. ما په دې فخر کولای شو چه په هغه وخت کښی چه ايټاليه کښی ډير

ظلمونه کیدل زه یوه کافی اندازه تجربه ولرم. ما دا هم ولیدل چه د هغه ځای ایمانداران په زیر زمینو کښی لاندې او په تیاره ځایونو کښی په عبادت کولو کښی مشغول وه. پس له دویم جنگ جهانی څخه په سلونو جماعتونه په ټول ملک کښی ظاهر شول د اوسنی قانونو په مطابق د دې جماعت مشران ئې په رسمیت سره وپیژندل او دوی په آزاد ډول سره اعلان وکړ. نن ورځ هلته د کتاب مقدس یو ښونځی او نوری ډیری قوی کلیسا گانی موجودی دي.

دا ضرور نه ده چه ستاسو فکر د ایټالیه د یو ښه کار طرف ته جلب کړم هلته د جلسو جوړول د همیشه د پاره عموما د قانون خلاف کار دی. ډیر کسان ئې په دې باندې په بندې خانو کښی واچول چه په کورونو کښی به ئې دا قسم جلسی تشکیل کړی وی. په حقیقت کښی د دغه ځای ټول کار د شخصی شهادت پواسطه سره پر مخ تللی دی. دا هم یو دلیل دی چه روح القدس د کوم خاص رفتار یا قانون تر لاندی نه دی. کله چه روح القدس کار کوی هر یو کار به کامیابه وی. ځکه چه رفتار مهم نه دی مگر د روح القدس قدرت دی چه کامیابی تر لاسه کوی. هر کله چه داسی فکر کوو باید په دې عقیده ولرو چه هغه کلیسا گانی لکه په چین یا په نورو پټو ځایونو کښی چه دي خپل موجودیت د لاس څخه ورکړی نه دی. هر کله چه په چین کښی

روح القدس کار کاوه په شمال جنوب او مرکز کښې نو د دې ځخه ځینی خلک داسې وه چه د نورو ځخه بې خبره وه. لکه د اول وخت مسیحیان په چین کې چه په زیر زمینو کښې به ئې عبادت کاوه مگر کلیسا هیڅ کله له منځه نه ځی. زه عقیده لرم چه په چین کښې کلیسا له منځه نه ده تللی د جهنم دروازی نشی کولای چه په کلیسا باندې اثر پیدا کړی. روح القدس په هغه ځایونو کښې هم کار کوی چه چیرته یو تبلغی هم موجود نه وی. ظلم او جفا نشی کولای چه ویښوالی له منځه یوسی. مگر د دې په خلاف ظلم او جفا د کلیسا د ژوندون سبب گرځی.

راځی چه اوس لږ د کنگو په باره کښې چه مرکزی افریقا کښې واقع دی خبری وکړو. په ۱۹۱۴ عیسوی کال کښې دوه انگلیسی ځوانان په زړه کښې خدای تعالی دا ارزو واچوله چه یو ویلیام برتون او بل جیمز سالتر نومیده چه خدای تعالی دوی دغه مملکت ته دعوت کوی. هغوی مجبور وه چه ژبه د ماشومانو ځخه زده کړی، ځکه چه د دغه ځای لویانو به چه کله سپین پوستکی خلک ولیدل، نو په مخه به تښتیدل. د دې په ځای چه د ماشومانو ځخه ژبه زده کړی نو ورسره به ئې هغوی ته تعلیم هم ور کاوه. د هم هغه وخت نه ئې ښونځی پرانستل او دغه کار د دوی په نن ورځ څه عجیبه غوندی په سترگو

ښکاری. ډیرو لږو مبشرینو ځینی کتابچی خلکو ته ورکړی وی. نن ورځ هلته حالات بدل شوی دی په ډیرو ځاینو کښی ښونځی موجود دي. د کنګو په هیواد کښی دا اولین ښونځی ډیر ښه او روح القدس په وسیله ډیر ګټور تمام شو. روح القدس په ټوله آینده باندې پوهیږی او په مناسبه طریقه سره خپل پلانونه طرحه کوی. په دې آخری کالونو کښی په کنګو کښی یوه عظیمه بیداری او ویښوالی رامنځ ته شو. هو مونږ د پنتکستی ویښوالی څخه علاوه نور ویښوالی هم لرو چه ډیر اعلی او ښه دی. دا ویښوالی په کنګو کښی هغه وخت شروع شو چه هر کله چه په ښونځی کښی استاد غوښتل چه د خدای محبت شاګردانو ته تشریح کړی. روح القدس په خپل کار کښی مصروف وه. استاذ د خدای د محبت څخه ډک شو او په ژړا ئې لاس پوری کړ. او ماشومانو هم په ژړا لاس پوری کړ. ناڅاپی شاګردان دې خبری ته متوجه شول چه میندی او پلرونو ئې د خدای تعالی د دې محبت څخه ناخبره دي. هغوی د خپل کور په طرف روان شول او د خپل مور او پلار څخه ئې دا خواست وکړ چه حضرت عیسیٰ د خدای زوی قبول کړی چه ئې خپل ځان د دوی د پاره قربان کړی دی. هغه کار چه دغه مبلغینو نشو کولای چه وکړی دې ماشومانو د خپل شهادت په وسیله سره سر ته ورساوه. دغه ویښوالی او بیداری له دې مدرسی څخه

ټولی ځنګلی علاقی ته خپور شو. پس له ډیری کمی مودی څخه تقریباً په ۱۸ میاشتو کښی ۵۰۲ کلیساګانی تاسیس شوی. نو اوس به ۵۰۲ کلیساګانو ته له کوم ځای څخه دومر سرپرستان یا شپونکی پیدا شی؟ روح القدس مخکښی د دې کار فکر کړی وه او دې مبشرینو ته ئې د ښونځی د پرانستلو هدایت کړی وه. درسی کتاب په دغه ښونځی کښی مقدس کتاب وه. د دې ویښوالی سره سم دغه شاګردان تقریباً ځوانان شوی وه او ودونه ئې کړی وه او کولای شو چه د سرپرستی عهده سنباله کړی. دا هغه کار وه چه روح القدس په کنګو کښی وکړ. خو هر هیواد ځانته تاریخ لری. مګر څومره مسافرتونه می چه وکړل ومې نشو کولای چه یو خاص رفتار او روش پیدا کړم چه روح القدس د هغی څخه همیشه استفاده وکړی. د روح القدس هر یو کار عجیب او غریب دی، خو یو خاص قانون شته دی هغه دا دی چه هغه ته اجازه ورکړو چه خپله کار وکړی او په خپله په تا کښی خپل ځان او نعمتونه څرګند کړی. په دې هکله لاژم دي چه یو څو کتابونه ولیکو چه روح القدس د مشرق په خلکو باندې هغه وخت نازل شو کله چه هغوی په دعا کولو کښی مشغول وه نن ډیر خلک پاندیتا راما بای هندی نه خبر دی. په زرګونو خلک په هندوستان کښی او ډیر مبشرین موجود دی چه پنتکستی تجربی څخه باخبره

دي او دا تحریک تقریبا تر کافی اندازی پوری بومی دی. د شلمی صدی په شروع کښی یوه هالندی کورنۍ اندونزیا ته لاړه او ډیر زړه پوری کار ئې شروع کړ. ځینی د امریکا څخه دغه هیواد ته لاړل او د نوو کلیسا ګانو په جوړولو کښی ئې ډیر په کامیابی سره کار وکړ. دغه ویښوالی د هیواد ټولو برخو ته ورسید او ټول کارونه د همدغه مملکت خلکو په لاس کښی اخیستی وه. په اوس وخت کښی تقریباً د اندونزیا ټولی کلیساګانی د روح القدس څخه ډکی دي. د روح القدس د بپتسمی زیری تقریباً د ملکی خلکو او خارجیانو په لاس په ټول شرقی هیوادونو کښی خپور شوی دی. په تبت او چین کښی یو لوی روحانی بدلون منځ ته راغلی دی. هغه ویښوالی چه فیلپین او نورو هیوادونو کښی منځ ته راغلی دی باید د هغوی د پاره خوشحاله اوسو. حقیقت خو دا دی چه هغه پنتکستی ویښوالی چه په شلمه صدی کښی په ټوله دنیا کښی منځ ته راغلی دی باید ورته خوشحاله شو.

په اخر کښی اجازه را کړی چه دا خبره تشریح کړم چه صرف د روح القدس پیژندل چه د رسولانو په وخت کښی ښودل شوی وه کولای شی چه د خدای ټولی وعدی سر ته ورسوی چه د مسیح له ختلو څخه وروسته ئې راتلل ګڼور وه. مسیح خپلو شاګردانو ته وویل "زما تلل

ستاسو د پاره ضرور وي ځکه چه که زه لاړ نه شم نو تسلی ورکونکی به رانشی." د پنتکست د اختر په ورځ باندې هغه تسلی ورکونکی راغی او هغه کارونه چه مسیح ئې پیشګوئې کړی وه وکړل. په هغه وخت کښی شاګردان وپوهیدل چه جلالی خدای د دوی بدن ته داخل شوی دی او د یوحنا ۷: ۳۷-۳۸ آیات په مطابق د دوی څخه د ژوند د اوبو نهرونه جاری شوی دي. هغوی تری هغه وخته پوری خپل انسانی وجود په نظر کښی درلود. کمزوری او نقصانونه په کښی موجود وه خو د دې سره سره الهی روح هم په دوی کښی کار کولو سره د دې چه دوی سره ظلمونه کیدل، خو بیا هم کامیابی د دوی وه ځکه چه خدای تعالی د دوی سره وه. باید په ډیر مایوسی سره ووایم کوم حقیقتونه چه ئې پورته ذکر وشو، نن سبا مسیحی عقیده لرونکی د روح القدس په باره کښی څه عجیب او غریب فکرونه کوی. ځینی خلک د روح القدس بپتسمه یو خطرناک روحانی بحران ګڼی او ځینی خلک دا فکر کوی چه دوی د روح القدس په باره کښی ډیر احساساتی شوی دي. نن سبا مسیحی رهبران ډیر شیان وائې او لیکی، مګر اصل ضعف د کلیسا له منځه نه دی تللی. تر څو پوری چه روحانی بیداری او ویښوالی د کلیسا د غړو تر منځ نه وی پیدا شوی، نو نشو کولای چه ډیر کار وکړو. هغه څه چه مونږ لازم ګڼو دا دی چه باید د کلیسا

ټول غړی خلاصون حاصل کړی. او ټول د روح القدس څخه معمور شی او ټول غړی د بشارت کار مخ په وړاندی بوځی او لکه د رسولانو د زمانی غوندی دا جهان بلکل بدل کړی.

The Fulness of the Holy Spirit
by Gordon Lindsey
(Pashto)

اول چاپ په فارسی ژبه د میکائلیانو په واسطه ترجمه شو.
په ۱۹۹۵ کښی د فارسی څخه په پښتو ترجمه شو.